# د وينو کربښې

بصير بېدار ستوری

خپرونکي

د پښتونخوا د پوهنې ديره پېښور

## کتاب پېژندنه

| | |
|---|---|
| دا کتاب | د وینو کرښې |
| لیکوال | بصیر بېدار ستوری |
| کمپوزنګ | ارشاد خان (پښتو اکېډیمي) |
| وړومبی چاپ | ۲۰۱۷ء |
| بیعه | ۲۰۰ روپۍ |
| شمېر | ۱۰۰۰ |
| اهتمام | د پښتونخوا د پوهنې دیره |
| چاپ ځای | عارف پرنټرز محله جنګي پېښور |

## درکونه

- یونیورسټي بک ایجنسي خېبربازار پېښور ښار
- د پښتو اکېډیمۍ د کتابونو دُکان پېښور یونیورسټي او د دې ترڅنګه د کتابونو هر لوی دوکان

# د قلم سترګې

ښاغلی بصیر ستوری چې د لوی قام پرست شاعر او لیکوال خدای بخښلي کبیر ستوري د وینې تسلسل دی - یو ویښ او ''بېدار'' ذهن لري - او هم په دغه اساس یې د خپلې پېژندګلو دپاره د ''بېدار'' تخلص خوښ کړی دی - دا ځکه چې هغه د بېدارۍ دغه الهام د خپل پلار د ''افکارو'' او د هغهٔ د هاغه قامي او ملي مبارزې نه اخستی دی کومه چې هغه په خپله لیدلې ده او چې کله ئې بابا د قامي یو والي په تور بندي شوی دی نو ښاغلي بصیر بېدار د هغه د ژوند کړاونه نه صرف دا چې په خپله سینه لکه د ''درد'' محسوس کړي دي بلکې چې کله ئې د کبیر ستوري د بندي خانې د ورځو شپو قیصې اوریدلي دي نو په سترګو کې ئې اوښکو غاړې ورکړي دي - خو داسې ډېر کم خوش قسمته وي چې هغه د ''قاموليہ'' په تور بندي شي - ځکه چې د ''بندي خانې'' دغه ورځې شپې بیا ''اتلان'' د قام سترګې کړي - چې قام پرې فخر او ویاړ کوي -

د ''پښتو'' په جرم د بندي شوؤ اتلانو لړۍ د خوشحال خان بابا نه شروع کېږي او په دې نژدې کلونو کې تر باچا خان، اجمل ختټک بابا ، افضل خان لالا او نورو ډېرو رارسي ـ دې اتلانو د هر قسمه کړاونو او سختو باوجود د خپل مرام او خپل منزل په لور ''یون'' جاري ساتلے دے ـ ځکه نو د تاریخ په پاڼو کښې ئې ځائے موندلے دے ـ د سیاسي مبارزو سره زموږ قام پرست لیکوالو ''سائل بابا '' او نورو هم په دغه ''تور'' د بندي خانې تورې تمبې لیدلي دي ـ

ښاغلے بصیر ستوری ددې هر څۀ نه خبر دی ـ او د شعر لیکلو بنیاد ئې هم دغه ''حساس'' فکر دی چې د وخت لمبو وهلی دی ـ حالاتو ژوبل کړی دی ـ د هغه شعري ټولګه '' د وینو کرښې '' په خپله د ښاغلي بصیر ستوري د درد او د اظهار هاغه هنداره ده چې هغه ورکښې خپل مخ بیا بیا لیدلی دی ـ

په مجموعي توګه موږ د ښاغلي بصیر بېدار ستوري دغه شعري ټولګه په دریو برخو کښې ویشلی شو ـ اوله او مهمه برخه یې د قام غم دی ـ د اولس درد دی چې ښاغلي لیکوال ته په میراث کښې پاتې شوی دی ـ دویم د هغه د ځوانۍ د ورځو لېوني او روماني خیالونه دي چې د عمر

تېرېدو باوجود په ښاغلي بېدار پسې لکه د سیوري شاته شاته ګرځي او دریمه برخه هاغه نظمونه چې ښاغلي لیکوال ورکې د چارچاپېرچل ، د افغانانو د بې کورۍ په حال کښې د کړاونو سره سره دغه ګیلې کړي دي چې تر کومې به د پښتون قام د وینو د خرځون دغه سلسله دوام لري .دغه رنګ په عمومي توګه ورکې د قامي یو والي ارمان هم جوت ښکاري.

د ښاغلي بصیر بېدار د شاعرۍ دغه درې مهمې برخې په خپل خپل ځای باندې اهمیت لري ځکه چې شاعر د قام سترګې وي .ځکه نو باید چې د خپل ځان سره د دوران په ناکړدو ځلنده نظر ولري .هم دغه شعرونه وي چې د را روان وخت څېړنکار ترې د څېړنې دپاره د خپلو لارو لټون کوي .لکه د مثال په توګه د رحمان بابا غوندې صوفي شاعر چې د هر پښتون په زړۀ ، ذهن کښې ځای لري .د ژوند په حقله یې تر اوسه څۀ ''کوټلي'' معلومات نشته البته د ''بابا'' ددغه یو شعر نه د هغوي د دور او د چاپېرچل اندازه لګولی شي چې :-

پــــه ســــبب د ظالمــــانو حاکمــــانو
ګــور او اور او پېښــور درې واړه یــو دي

دغه رنګ هر شاعر په لاشعوري توګه د خپل دور منظوم تاریخ لیکي ځکه چې د یو شاعر سوچ د هغه فکر او د هغه لیدلي کتلي د خپل چاپېرچل هنداره وي. ښاغلی بصیر بېدار هم د خپل دور مؤرخ دی.

کوم ظلم یاد کړم چې په خاوره دپښتون به نه وي
لر دې که بر دې خو پښتون یې ژړولی دی ډېر
دشمن مو نه پرېږدي یو والي ته چې امن راشي
دنفاق تخم یې په هره خوا کرلی دی ډېر

---

دا کوم ظالم دې چې د جنګ اور ته لمنه وهي
نه مو جونګړه ، نه محل ، نه مو خیمه خوندي ده
ټول راله وژني د کار خلک او د سر پښتانه
نه مو سر ښېي او نه لاسونه نه سینه خوندي ده

---

مونږ به نو څنګه د خپل زړۀ خبره چاته اوکړو
په خولۀ کښې ژبه خوزولو باندې هم بندېز دی
قلم لرو فکر لرو او سوچ مو هم ژوندی دی
افسوس په دې چې په لیکلو باندې هم بندېز دی دی

---

دردونه دي فریاد دی هره خوا سُورې نارې دي
د درد دلاسه ژاړي ماشومان په دې وطن کښې

شوې پېغلې په کښې کونډې نوی نسل تباه کېږي
شو ډېر پاتې بې پلاره يتيمان په دې وطن کښې

د لوی افغانستان د ''تنر'' کلي په خاوره خړپوسې کوونکی عبدالبصير بېدار د خپل ژوند ډېر سپرلي ليدلي دي - پرون هاغه بې پروا ځلمی وو او نن يو باشعوره د ''پوخ'' ذهن هوښيار انسان دی - هغه چې د افغانستان د حالاتو نه پس کله د خپل پلار نيکۀ ټاټوبی په کوم حال کښې پرېښودی دی هاغه ټول کړاونه لکه د نورو افغانانو د ښاغلي بېدار په ذهن کښې هم د ''فلم'' په څېر هر وخت چورلکونه خوري - ځکه چې هاغه د لعل محمدخان نمسی او د ډاکټر کبير ستوری زوی دی - هغوي په کونړ کښې د زمانو نه د ''خانۍ'' ورځې شپې سبا کړې وې - د هاغه مشرانو به کله دا سوچ هم نه وو کړی چې د افغانانو په ''خاوره'' به داسې داسې ''ناتار'' ګډ شي چې د هغې لمبې به هر کور ته اورسي ، څومره پښتانۀ بې کوره شول او حالاتو څنګه تالاوالاکړه - دا ډېره لويه الميه او دردناکه قيصه ده - چې د سبا مؤرخين به پرې خپلې څېړنې کوي -

د ''پردو'' په غوبل کښې د افغانستان خاوره ژوبل ژوبل شوه خو د افسوس خبره داده چې پښتانۀ په ''پښتنو''

اووهلی شو ۔ په اتیا یمه لسیزه کښې به چې ''سائل صیب'' وئیل چې :-

پردی ټوپک دی پردی بورجل دی
هلته هم زۀ مرم دلته هم زۀ مرم

نو هر چا به وئیل چې ''سائل'' لیونی دی ۔ دا خو د ''اسلام'' غزا ده ۔ خو وخت ثابته کړه ۔ چې د رحمت شاه سائل غوندې زیرکو لیکوالو او سیاستمدارانو چې څۀ وئیلي وو هغه ټکی په ټکی رښتیا شو ۔ د پردو غوبل سرته اورسېدو ۔ خو د افغانستان په خاوره ئې د نفرتونو داسې نخښې ئې شاته پرېښودې چې اوس ددغه غېرتي قام په یو ټغر راغونډول ګرانه څۀ چې ناممکنه خبره ده ۔ او دغه قوتونو تر اوسه د نفرتونو دغه لمبو ته ببوزي وهي ۔ ښاغلی بېدار دا هر څۀویني او د خپلې شاعرۍ په ذریعه د خپل ژوبل احساس په ځلي ساندې وائي ۔

پښتانه خپله د پښتون دشمن ته لاس ورکوي
ځان کړي کمزوری خو دشمن یې زورور پاتې شي
هغه وختونه بیرته نه راځي لښکرې نه شته
اوس د پښتون په نوم به ځنګه سر لښکر پاتې شي

وژاړم کـه وخانـدم دخپـل قسـمت پـه حـال مـې زه
مرمـه بيـا هـم ژونـد کـړم بدقسـمته يـم افغـان يمـه
تيـر شـول ډېـر کلونـه چـې بـه سـوله امـن وويـنم
زه پـه ګـران هيـواد کـې تـل دامـن پـه ارمـان يمـه

ژوند خوښوم ، ساز خوښوم او مستي هم خوښوم
د ژونـد ربـاب کـې دتـارونو سـور پـه خپلـه وژنـم

ګنـاه مـې داده چـې پښـتون يمـه نـو مـرګ قبلـوم
ددې ګنـاه تپـوس بـه زه کـومې ګنـاه نـه وکـړم
چـې پيـدا شـوي يـو د جنـګ سـره ډغـري وهـو
اوس زه قيصـه شـروع د کـوم يتـيم ژړا نـه وکـړم

---

که هر څو عبدالبصير بېدار د خپـل قـام پـه بـده ورځ مـاتم کـړی دی ، ساندې ئې وئيلي دي .خو ددې تر څنګه په سينه کښې يو شوخ او ناقراره پښتون زړۀ هـم لـري . هغـه چې د خپلې ځوانۍ په ورځو شپو کښې د ''کوم'' حُسن متاثره کړی دی نو د هاغـه حُسن رنګونـه د وخت تيرېدو باوجود نـن هـم پـه زړۀ او ذهـن کښې ناقراره دي . او لکه څنګه چې حـالات پـه پښـتني مـاحول مينه کـول جرم ګڼي دغـه رنـګ عبدالبصير بېدار هـم د خپلو

مجبورو قیصې نغمې کړي دي ـ کومې چې د هغه د ځوانۍ د ورځو شپو هنداري دي ـ عبدالبصیر بېدار چې کله د پرون په لوري ګوري نو زړۀ ئې خوارۀ خوارۀ دردونه کوي ـ د خپل کلي د ساده باده ماحول ښائستونه ئې سترګو ته سیوري سیوري کېږي او دی لکه د لېونو د دغه سیورو په خاپونو پسې ګرځي ـ

زمـــا ســـترګو بـــه ځـــارلي دا ســـتا لارې
خـو د کلـي پـه کوڅـو کـې رانـه ورک شـوې
چـې پـه قـدر دي زه پـوه نـه شـوم جانانـه
ښکلی لعل وي په ایرو کې رانه ورک شوې

---

انتظـــار دې د کلونـــو انتظـــار شـــو
پـــه دېـــوال بـــه خامخـــا کرښـــې را کـــاږم
وچـــو شـــګو نـــه کورونـــه ځانتـــه جـــوړ کـــړم
ورانـــوم یـــې پـــه ژړا کرښـــې راکـــاږم

---

ســـتا خـــوارۀ کتـــل ډک دحیـــا ســـره
زه پکـــې ارمانـــه خپـــل ارمـــان ګـــورم
ګـــوره راتـــه ګـــوره چـــې بـــې خـــوده شـــم
بـــس د لیونتـــوب دغـــه جهـــان ګـــورم

حجري به وې ديرې به وې مشران کشران به ناست وو
منګــــي بـــه وو ،ســـيتار وواو ربابونـــه پخـــواني
هــر چــا بــه کــوه فخــر پــه رواج ، دوود او دســـتور
اوس لاړه مـــونږه پرېښـــوده دوودونـــه پخـــواني

ستـــرګې مـــې ځـــار د هغـــې لارې کـــوي
پـــه کـومـــه لاره چـــې نـــن تللـــي جـــانان
خـــداى خبـــر ولـــې مـــرور غونـــدې شـــو
بيـــا راتـــه چـــا دې لمســـولي جـــانان

---

د عبدالبصير بېدار د شاعرۍ د رنګونو نه دا خبره څرګندېږي چې هغه چې د څومره ليکوالو مطالعه کوي د هغوي د فکر او د هغوي د خيالونو نه اثر اخلي ۔او بيا دغه خيالونه د خپلو لفظونو په چوکاټ کښې ځاى کېږي ۔ددې نه دا ثابتېږي چې ښاغلى ''بېدار'' سترګه ور دى ۔د شعر په شعريت او د غزل په تغزل ډېر ښۀ پوهېږي ځکه په هر ګام د ښه سوچ په لټون کې دى د ښاغلي بېدار د شاعرۍ بله برخه هاغه ازاد نظمونه دي چې هغه ورکښې په لاشعوري توګه کله د وختونو او کله د قام پرهرونه چيړلي دي ۔دې نظمونو دغه شعري ټولګه درنه کړې او لوستونکو ته ئې د فکر نوې لارې پرانستې دي۔

ستا مخ کتاب کړم ځانته
پاڼې يې اړه ومه
ستا د خايست رنګونه
په کې زير زير ګورم
زما قلم عاجز شي
ستا د ښکلا معيار ته

او دغه رنګ ځنې موضوعاتي رنګونه ښاغلی ''بېدار'' د وخت په ښهٔ شاعرانو کښې اودروي . ما د ښاغلي ''بېدار'' د ژوند د کتاب د هرې پاڼې هر توری لوستی دی . هغه په عملي توګه هم يو سپېڅلی پښتون دی . د جذبو په صداقت عقيده لري او د پښتون قام د ''ملي وحدت'' يو ناقراره ارمان په زړهٔ کښې لري . ښاغلی بېدار په دې پوهه دی چې دغه خوب به حالات په خپله رښتيا کړي ځکه چې تر ننه پښتنو د ''پښتنو'' د سر سودګانې کړي دي او دغه سلسله به تر هغې روانه وي چې تر څو پښتانهٔ قامي شعور اونهٔ لري ، چې تر څو پښتانهٔ ''ځان'' اونهٔ پېژني . خو د دغه شعوري بېدارۍ د سرو سپينو او برګو بېرغونو د وس خبره نهٔ ده ځکه چې تر اوسه لا پښتانهٔ په ړندو سترګو په دغه جنډو پسې روان او د '' زنده باد'' نعرې وهي . ښاغلی بېدار په دې هم پوهه دی چې د کلهٔ نه د

افغانستان حالات کړکیچن شوي دي نو ټول تاوان پښتنو ته رسیدلی دی. خو ددې خاورې هاغه پښتنو چې ټول عمر ئې د افغانستان په سرو او سپینو لوبې کړې وې کله هم د تالاوالا پښتون د یو کولو شعور، هڅه نۀ ده کړې. صرف په چیغو سیورو، تشو خبرو ئې نفرتونو ته نوره هم لمن وهلې ده. کوم چې زمونږ قامي المیه ده.

مونږه د ننګ او د پښتو خبرې ډیرې وکړې
مونږ د پښتون د یو کیدو خبرې ډیرې وکړې
خو په عمل کې مو یو ګام د یو کیدو وانه خیست
هسې خوږې مو د جرګو خبرې ډیرې وکړې

---

ښاغلے "بیدار" د خپل بابا د فلسفې د هغه د فکر نمائنده شاعر دی او د ښاغلي نسیم ستوري د شعري مجموعو نه پس د ښاغلي بصیر بیدار ستوري دا شعري ټولګه دا خبره پخه وي چې که هر څو وختونه قید شي د ښاغلي کبیر ستوري فکر به لا نور هم ځلا کیږي. ځکه چې څوک د قام شي نو قام د هغۀ شي. ځکه ښاغلي بیدار ته په دغه شعري مجموعه " د وینو کربښې " مبارکي وایم. په دې

هیله چې په راتلونکي وختونو کښې به د ''بېدار'' د فکر غوټۍ نور ګلونه سپړي۔

تل ګوري دروازې ته د زوي لار څاري په سترګو
هغې خوارې بوډۍ ته خو ژړا سترګې ړندې کړې
بېداره ټول يې ويني خو څه نه وايي ګونګي شي
د ډېرې بې حسۍ نه يې بينا سترګې ړندې کړې

په ویاړ

لایق زاده لایق (تمغهٔ امتیاز)
د رېډیو پاکستان پېښور ریجنل ډائرېکټر
مارچ ۲۰۱۷ء

# زما د وینو کربښې

د پښتنو په خاوره د تیرو څو لسیزو راهسې اور بل او جنګ روان دی او په دغه غمیزه کې د لر او بر پښتنو پښتنو قرباني ورکوي - وینې تویوي او د وینو کربښې ئې په هر دیوال ، هر کاڼي ، بوټي او د هر پښتون په سینه لکه داغ پاتې کېږي - همدغه حالت او ناورین سړی په سوچ کولو مجبور کړي چې دغه سوچ ، خیال او احساس کله د درد او اسویلو سره د غزل، نظم او نثر جامه واغوندي - زۀ خو ځان د شاعرانو په ډله کې نۀ شمېرم خو ژوند پخپله د حادثو او تجربو ، خوښیو او غمونو هنداره ده - نو زۀ هم کله نا کله چې څۀ ولیکم په اجتماعي رسنیو لکه فیسبوک کې د خپلو ملګرو سره شریک کړم نو زیاتره ملګري رانه غوښتنه کوي چې خپله شاعري چاپ کړم او ما هم دا لازمه وګڼله چې خپله یوه برخه شاعري چې لا پخوا چاپ ته تیاره وه چاپ کړم ، په دې شعري ټولګه کې زما څۀ پخوانۍ او څۀ اوسنۍ شاعري راغونډه شوې چې د حالاتو او

زما د احساساتو انځور دې دغه انځور به څنګه وي ؟ دا به لوستونکي قضاوت کوي خو زۀ به د خپلو ټولو ملګرو او په خصوصي توګه د خپل خوږ ملګري لايق زاده لايق ډېره مننه کوم چې زما شاعرۍ ته ئې نوم انتخاب او سريزه ئې پرې وليکله بلکې د چاپ په سمبالولو کې ئې هم راسره پوره مرسته وکړه او همدارنګه د خپل زوي کريم بېدار (سپين غر) د مينې څخه چې زۀ ئې وهڅولم چې خپلې شاعرۍ ته کتابي بڼه ورکړم مننه کوم چې د خپلو وينو کرښې د درنو لوستونکو نظر ته وړاندې کړم ـ خداى دې وکړي چې زما دغه شعري ټولګه د قدرمنو لوستونکو په لوستلو وارزي ـ

په ډېره مينه او درناوي

بصير بېدار ستورى
پښتونخوا ، پېښور
۲۰۱۷ء/ ۰۳ / ۲۲

# لویه خدایه

پاکه ربه لویه خدایه
تاته ناست تل په دعا یو
دغه سوال زموږ قبول که
سوله امن راله راکه
جنګ زموږ له سره واخله
جنګ وحشت دې تباهي ده
موږ له جنګه ستړي شوي
امن غواړو سوله غواړو
کور او کلي مو تباه شول
ټول په دې جنګ کې تالا شول
ښه ځوانان مو شولو خاورې
ښځې سپین ږیري ماشومان هم
خو دا جنګ کله ختمیږي
پوره څو لسیزې وشوې

جنګ روان دي نه ودرېږي
د دهشت په نوم تباه شو
پښتانه غرق شو تالا شو
لویه خدایه پاکه ربه
دا څه کېږي لا به کېږي
دانسان زړه پرې خوږېږي
ته خپل رحم کرم وکه
له دې شره نه مو خلاص که
دجنګ نوم ورک په دنیا که
دا دجنګ شیطان تباه که
دا زموږ په وس کې نه ده
لویه خدایه پاکه ربه
سوله آمن راله راکه
هرپښتون په خپله خاوره
جګ سر لوړي که بالا که

# ژوند ښکلی دی

پـه چـا ښـه پـه چـا تـاوان دی دغـه ژونـد
پـه ارمـان پسـې ارمـان دی دغـه ژونـد
پـه دنیـا هیلـه د هیچـا نـه سـر کیـږي
ځکـه ډیـر زیـات سـرګردان دی دغـه ژونـد
چـې دچـا نـه تپـوس وکـړي حـال دي څـه دې
وایـې بـس یـاره روان دی دغـه ژونـد
هـر سـړي لـه ژونـده داسـې ګیلـه مـن دې
تـه بـه وایـې سـم طوفـان دی دغـه ژونـد
څـوک یـې تیـر کـړي پـه مـړه څـوک پـه نهـره
پـه چـا ښـه ډیـر مهربـان دی دغـه ژونـد
دا دنیـا دي سـختو تنګـو تـه پیـدا ده
هـر سـاعت یـو امتحـان دی دغـه ژونـد
ژوند ډیرښکلي دې د ژوندخواږه ډیر زیات دي
پـه **بیـدار** ځکـه ډیـر ګـران دی دغـه ژونـد

# د خیال سلسلې

نيمه شپه وه چې د خيال سلسلې راغلې
د ديدن او د وصال سلسلې راغلې

په سوچونو کې تر ليرې ځايه لاړم
څه د فن او د کمال سلسلې راغلې

تفکر کې مې دځانه مجنون جوړ کړ
دليلا دخط و خال سلسلې راغلې

بادشاهي مې نيمه جوړه کړه په خيال کې
ناڅاپي پرې د زوال سلسلې راغلې

يــو رنګينــه دنيــا جــوړه تصــور کـــړه
پـــر ي د پاســه دجنجــال سلســلې راغلـــې

دا د خيــال دنيــا مـــې هلــه شــوه ويجــاړه
چــې د جنــګ ، قتــل او قتــال سلســلې راغلـــې

چــې **بېــدار** شــومه نــو هــوش مــې ســر تــه راغــې
خيــال پلــو نــه وو دحـــال سلســلې راغلـــې

## مهاجر

د بې کورۍ په دې خپل کور کې يم د کـور پـه لټـون
بــې نومــه ګـرځم پـه خپــل نــوم يــوه کوټــه لټـوم

يــم مهــاجر کــډه پــه ســر پــه ســرو غرمــو ګرځمــه
ډ يــر ســتړی شــوی د ســر ســيوري تــه دمــه لټــوم

# څۀ خبره خوشته

بیا مې زړګي په درزیدو شو څه خبره خو شته
بدن مې ټول په رپیدو شو څه خبره خو شته

بیا د جانان کوڅه کې خلک راټول شوي څنګه
چې هرسړي سر په توبو شوڅه خبره خو شته

بیادچاکور وران شوې څوک وسو په سرولمبو کې
چې شین لوګي په جګیدو شو څه خبره خو شته

مخې ته راغې زړه یې ډک وو څه یې نه ویلې
شو راپه غاړه په سلګو شو څه خبره خو شته

پېغلو چې مات کړله بنګړي دخپل مړوند په ځلې
هله شوم پوه په پوهیدو چې څه خبره خو شته

خبرې ډېرې دي **بېداره** ټولې نه شم لیکې
خبره بیا د پرېښودو شوه څه خبره خو شته

# د ځان دښمن

پردي ټوپک دې ځان پرې وژنم وروو په خپله وژنم
خومره ساده يمه د خپل مټ زور په خپله وژنم

د چا په لمسه مې د ډېرو د ژوند واخيست کسات
چې بې عزت شوم تا په دې پيغور په خپله وژنم

بس شاباشی راکه باتور يې او ډېر نر پښتون يې
د زړه په کور کې مې د سترګو تور په خپله وژنم

چرته چې شور د زندګۍ په مستۍ ووينمه
زړه مې را تنګ شي ورته دغه شور په خپله وژنم

ژوند خوښوم ، ساز خوښوم او مستي هم خوښوم
د ژوند رباب کې د تارونو سور په خپله وژنم

که دښمني مې د کلونو درته پاتې شوله
دا به وي پور نو تا په دغه پور په خپله وژنم

# بندیز

ستر ګې لرو خو په لیدلو باندې هم بندیز دی
غوږونه شته خو اوریدلو باندې هم بندیز دی

موږ به نو څنګه د خپل زړه خبره چاته وکړو
په خوله کې ژبه خوزولو باندې هم بندیز دی

قلم مو شته فکر لرو او سوچ مو هم ژوندی دی
افسوس په دې چې په لیکلو باندې هم بندیز دی

د حق اواز به د سیني دننه پټ ساتي تل
ځکه اواز اوچتولو باندې هم بندیز دی

هسې په خوله وایو ضمیر لرو وجدان لرو موږ
د خپل نظر اظهارولو باندې هم بندیز دی

د نیـا یـو کلـي شـو خـو مـوږ کلـي کـې ځـای نـه لـرو
کلــي کــې نــور پــه اوسـیـدلـو بانــدې هــم بنــد یز دی

سهار چې لاړ شي مزدورۍ ته خالي لاس واپس شي
پـــه مـــزدورۍ او کـــارکولو بانـــدې هـــم بنـــد یز دی

مـــوږ انســـانان یـــو مـــونږ ه ژونـــد د ازادۍ خوښـــو
خـــو پـــه ازاد ژونـــد تیرولـــو بانـــدې هـــم بنـــد یز دی

تـور تـه بـه سـپین وایـو اوسـپینو تـه بـه تـور وایـو مـوږ
پـــه حقیقـــت ریشـــتیا ویلـــو بانـــدې هـــم بنـــد یز دی

پښـــتونولي لاړه ، پښـــتو مـــو لـــه نصـــاب ووتـــه
پښـــتو لیکـــل ، پښـــتو لوســـتلو بانـــدې هـــم بنـــد یز دی

" **بېداره** " غلـي چرتـه کینـه ځـان دي ګـوډ او شـل کـه
نـور پـه دې ښـار کـې ګرځیـدلـو بانـدې هـم بنـد یز دی

# وطن !

زه بــه دې جانــان يــم او کــه تــه زمــا جانــان يــې
دومـره راتـه ګـران يـې چـې لـه ځانـه راتـه ګـران يـې

څـوک بـه دې دسـتورو او سـپوږمۍ مقايسـه کـوي
ماتــه کائنــات د رنګينيــو پــاس اســمان يــې

تـه مـې د خـاپوړو خـاوره تـه مـې د ژونـدون اسـره
تـه مـې ګـران وطـن يـې تـه زمـا عـزت او شـان يـې

څوک چې درته سپک ګوري په سپک نظربه والـوزي
ستا نـوم بـه ژونـدی وي تـه بـه لـوی افغانسـتان يـې

خبـر دی کـه پـه تـا بانـدې هـر چـا اورونـه بـل کـړله
بيـا بـه د غلـيم د سـترګو خـار شـي قهرمـان يـې

ماته ستا کچه کورونه ښکلي له بنګلو ښکاري
ښکلې به نړۍ وي خو ته زموږ ښکلی جهان یې

تاته دشمنانو رنګ په رنګ دسیسې جوړې کړې
ته زخمي زخمي شوې ته په خپلو متهو وران یې

را به شي سپرلي د آمن بیا به خوشالي راشي
بیا به د شملو وطن شي بیا به ته ودان یې

ستا د وینو زخم به په خپلو اوښکو ووینځم
بیا به حماسه شي د **بېدار** د زړه ارمان یې

## اتل

تمیز ورک شو که زمونږ سترګې ړندې شوې
خاینان مو د وطن قهرمانان شول
مېړونو باندې هم نازول کېږي
قاتلان مو د اولس ټول اتلان شول

# اختره

اختــره کــه راځــي پــه خوشــحالۍ راشــه راځــه
پېغــام د ســولې راوړه پــه خوښــۍ راشــه راځــه

یـو داسې پېغام راوړه چې خوشاله زمونږ زړونه شي
د مینــې محبـت جــوړه دنیــا زمــونږ رنګینــه شــي
د ژونـد لپـاره ژوند وکـړو او ټولـه مېنـه مېنه شي
خــونږ ســاز د محبـت شــه پــه مســتۍ راشــه راځــه
پېغــام د ســولې راوړه پــه خوښــۍ راشــه راځــه

مـونږ ډېرې سـختې تنګـي پـه جنګونـو کـې لیـدلي
زمــونږه ماشــومان ټـول پــه ویرونــو کې لــوی شــوي
لاســونه مــو دعــا تــه پــه اسـمان پورتــه نیــولي
د آمــن غـــروه راتــه شــپیلۍ راشــه راځــه
پېغــام د ســولې راوړه پــه خوښــۍ راشــه راځــه

اختــره تــا تــه ډېــر زيــات خوشــحالېږي ماشــومان
زلمــي، پيغلــې خوشــاله هــم خوشــاله وي مشــران
مــوږ هــم پــه انتظــار يــو چــې پــوره مــو کــړي ارمــان
ليــدلي مــو ده مياشــت پــاس پــه بلــې راشــه راځــه
پېغــام د ســولي راوړه پــه خوښــې راشــه راځــه

چې سوله ځان سره راوړي ، پوره به مې ارمان شي
د جنګ له اوره خلاص چې،دا وطن اوټول جهان شي
اختــر دي مبــارک هــر مســلمان تــه پــه ښــه شــان شــي
نيــولي ده **بېــدار** درتــه ځــولۍ راشــه راځــه
پېغــام دســولي راوړه پــه خوښــې راشــه راځــه

---

پــه اختــر کــې مــې جــامې پېونــد پېونــد دي
ځکـــه نـــه وځـــم لـــه پـــه اختـــر کـــې
خلق رنګ په رنګ خواړه ځان ته تيار کړي
مــوږ تــه نــه رســېږي ســپوره پــه اختــر کــې

# د پښتون وير

په جنګونو کې را لوی شو په جنګونو کې روان يو
دا مو برخه ازلي ده ، بد نصيبه افغانان يو

د پښتون په کور جګړه ده ، څو لسيزو نه اوږده
ته ما وژنې زه تا وژنم ، موږ د خپل ځان دشمنان يو

زه او ته به برباد يږو ، چې په خپل منځ کې جنګيږو
موږ بيا وايو پښتانه يو ،مونږه څومره هوښياران يو؟

نه مو علم ، تعليم وکړ ، نه مو کسب وکمال زده که
خو د جنګ په هر ميدان کې ، مونږه لوی پهلوانان يو

جنازې به پورته کيږي ، وير ژړا به پسې کيږي
که دا حال د پښتنو وي ، موږ به تل په وير د ځان يو

نور قومونه ترقي کړي ، يو د بل سره سيالي کړي
موږ به وروسته پاتې کېږو ، مونږ به تل خپلوکې وران يو

خدای لپاره سره يو شي ، پښتنو لاسونه ورکړي
که يو نه شولو ورکېږو ، موږ به "پاتې په مېدان "يو

د نفرت په اور کې سوزو ، په غيرت له ځانه تير يو
صرف د مينې نه منکريو ، نور د هر څه باتوران يو

د **بېدار** زړه را ډکېږي ، نم له سترګو يې څڅېږي
دا د کومې بلا ښکار شو ، مونږه پاتې حق حيران يو

زۀ چې د ژوند د کتاب کومه پاڼه اړومه
په هره پاڼه راته ښکاري وينې وينې کرښې

# ويده ضمير

مونږه د ننګ او د پښتو خبرې ډېرې وکړې
مونږ د پښتون د يو کيدو خبرې ډېرې وکړې

خو په عمل کې مو يو ګام د يو کيدو وانه خيست
هسې خوږې مو د جرګو خبرې ډېرې وکړې

ټوټې ټوټې پښتانه هماغسې ټوټې پراته دي
دشمن د دوې دختمېدو خبرې ډېرې وکړې

ويده ضمير د ويښيدو نه دې ويده پاتې دې
که هر څو موږ د ويښيدو خبرې ډېرې وکړې

مونږه بدلون وليده مونږه آزادي وليده ؟
د انقلاب مو د راتلو خبرې ډېرې وکړې

د وخت کاروان ډېر تيز روان دې موږ ترې وروسته پاتې
**بېداره** موږ يې د نيوو خبرې ډېرې وکړې

# د ژوند سندره

ما د مودو نه ستا دحسن انتظار وکړ
تا د رقيب سره په نيمه خوله اظهار وکړ

د محبت د سپرلي ور کې مې شيندل ګلونه
ستا قدمونو په راتلو ترېنه انکار وکړ

ماورته زړه ورکوو زړه کې مې ساتله مينه
هغې بې رحمه په زړه سم راته ګوزار وکړ

په خوږه خوله دې زهر سم زما په مخ وشيندل
څومره نادان ووم ما په تا باندې اتبار وکړ

زما د ژوند سندره لاړه مشهوره شوله
چا دعاګانې راته وکړې چا ازار وکړ

اخر به مات شي د نفرت زنځير د مينې په زور
د محبت زيرى که بيا چا په **بېدار** وکړ

# له ځان نه ګیله

ګیلــه د چــا نــه کــوم ګیلــه بــه دخپــل ځانــه وکــړم
زه د پښـــتون د قتـــل عـــام تپـــوس دچـــا نـــه وکـــړم

کویټه کې مري ، کابل کې مري په پیښور پښتانه مري
نـــور بـــه څـــه طمـــع د پښـــتون د کـــربلا نـــه وکـــړم

ګنـــاه مـــې داده چـــې پښـــتون یمـــه نـــو مـــرګ قبلـــوم
ددې ګنـــاه تپـــوس بـــه زه کـــومې ګنـــاه نـــه وکـــړم

چـــې پیـــدا شـــوي یـــو د جنـــګ ســـره ډغـــرې وهـــو
اوس زه قیصـــه شـــروع د کـــوم یتـــیم ژړا نـــه وکـــړم

نور دې اباد وي خو پښتون دې پکې خوار وزار وي
څنـــګ د انصـــاف طمـــع ددغـــې نـــاروا نـــه وکـــړم

قاتلـــه تـــا کـــه پښـــتانه پـــه خپلـــو وینـــو ســـره کـــړل
کـــه وخـــت مـــې راغـــې دا پوښـــتنه بـــه لـــه تانـــه وکـــړم

# څۀ وکړم

زړه مـې تـور شـو دې دنيـا نـه ، چاتـه وژاړم ، څـه وکـړم
خـوب مـې نـه شـته د سـودا نـه ، چاتـه وژاړم ، څـه وکـړم

هيڅ د خېر طمع ترې مه کړه، څوک کافر څوک مسلمان کړي
د قاضـــي او د مـــلا نـــه ، چاتـــه وژاړم ، څـــه وکـــړم

ورتـــه ګـــورم ليـــداي نـــه شـــم ، د حيـــا جنـــازه وځـــي
ســتر ګي پټـې کـړم حيـا نـه ، چاتـه وژاړم ، څـه وکـړم

د امکـــان پـــه تصـــور کـــې ، د ارمـــان دنيـــا کـــې ګـــرځم
خـلاص بـه نـه شـم لـه ارمانـه ، چاتـه وژاړم ، څـه وکـړم

دا دنیـــا پاګـــل خانـــه ده ، د ټـــول عمـــر جیلخانـــه ده
زړه مـې پـرق چـوي لـه خفګانـه ، چاتـه وژاړم ، څـه وکـړم

چـې انصـاف مـزل کـې نـه وي او منـزل دې نـه رسـېږي
پـــاتې تـــل یـــم لـــه کاروانه،چاتـــه وژاړم،څـــه وکـــړم

کلـه کلـه مـې لـه سـترګو ، نـه خـوب وتښـتي " **بېـدار** " یـم
ټولـــه شـــپه یـــم پرېشـــانه، چاتـــه وژاړم ، څـــه وکـــړم

## رښتیا دروغ

موږ که ریښتیا وایو نو خلـک یې ریښـتیا نـه ګڼي
خلـک چې دروغ وایې نو ښـه پـه افتخار یـې وایـې

د اځینـې خلـک دروغ پـروا نـه ګڼـي بـاک نـه بـولي
پخوا چې پټ بـه یـې ویـل اوس یـې ښـه پـه جار وایـې

# دیدن

خپل منزل د کور او کلي چې جدا شم
چې د پرتنګ شم داشنا کلي ته راشم

ستا دیدن پسې فقیر له ځانه جوړ کړم
کند کچکول غاړې ته واچوم ګدا شم

لیونو غوندې په لاره ګوتي شمارم
کړم د ځان سره خبرې په خنداشم

چې د کلي په کوڅه کې مخ ته راشي
ته زما په تماشه او زه دا ستا شم

مئینتوب کې جدایي سم لیونتوب دی
لیونی به شم له مینې چې جدا شم

تل په خوب را نازلېږي ستا یادونه
چې **بیدار** شمه سلګو کې په ژړا شم

# د ژوند هنداره

د ژوند هغه مزه نه شته هره خوا تېګي برګي ده
پلار د زوي ځني بېزار دی ورور د ورور سره بدي ده

چې به مينه محبت وو ځاريدل به يو تر بله
اوس يو بل ته کوهي کني ورانه شوي يې دوستي ده

نن هغه کوخي خاموشي نه شته شور د ماشومانو
هغه کلي بې ساه ښکاري ختمه شوي يې مستي ده

د چينار لاندي وياله وه دوياله خوا کې چوتره وه
چينار اور واخيست سوځېږي ختمه شوي يې ځواني ده

هغه "ژرنده"، "پايکو" څه شوه هغه "بوه"، "ماله" څه شوه
څومره خوند وو په" أشر" کې څه مزه د "غوبلګي" ده

اوس هر څه ماشيني شوي انسانان هم ماشيني شو
د ماشين به څه ګيله کړي چې د بل لاس کې "کيلي "ده

عجيبه قصاب خانه ده دانسان غوښې خرڅېږي
نور د هر څه قيمتي ده بس د وينو ارزانې ده

"تا "هم وژني "ما "هم وژني ، هغه وژني "دا "هم وژني
زه **بېدار** ورته حيران يم چې دا څنګ مسلماني ده

## موسم

څو موسمه په يوه کال کې بدلېږي
يو دبله دعا اخلي رخصتېږي

هر موسم کې دالله خپل لوی حکمت دی
که دا نه وي نو د ژوند مزه ختمېږي

# د وخت قدر

د ژوند په هر یو کار کې چې څوک وروسته پاتې کېږي
دا وخت به تري تېرېږي
د وخت قدر په کار دی وخت روان دی نه ودرېږي
دا وخت به تري تېرېږي

دا وخت لکه اوبه دی په شا بیرته نه جار وځي
چې څوک وخت سره نه ځي نو هغه پکې پرېوځي
لاسونه به بیا مروړي وخت ترې ځي نه ایسارېږي
دا وخت به تري تېرېږي

ځوانانو دا مو وخت دی ځان دسیالو سره سیال کړئ
دعلم په ګاڼه او په جوهر یې ځان سمبال کړئ
دا وخت دعلم او پوهې دی په دې هر څوک پوهېږي
دا وخت به تري تېرېږي

هغـه خلـک کامیـاب وي چـې د وخـت قـدر کـوي
پـه خوشـي عـبس کـار بانـدې خپـل وخـت نـه تیـروي
دژونـد هـرې شـیبي نـه مـزه اخلـي خوشـحالیږي
دا وخـت بـه تـرې تیریـږي

زمـا یـو څـو خبـرې وې د وخـت پـه اهمیـت
هر څوک پـه دې پوهیږي چـې وخت نه لـري قیمت
**بېدار** وائـي حتمـاً بـه بیـا د وخت پسـې ځـوریږي
دا وخـت بـه تـرې تیریـږي

## ملامت خپله یو

مونږ ته چې څۀ راپېښ شي وخـت نـه ګیلـه ډېـره وکـړو
پـه دې کـې وخـت تـه ګنـاه نـه شـته ملامـت خپلـه یـو
نـه مـو ځـان وپېژنـده نـۀ وخـت سـره یـو ځـای لاړو
اوس مـونږه ټـول یـو ذمـه وار ددې حالـت خپلـه یـو

# دامن تمنا

تــه نــه یــې خــو داســتا خــوارہ یادونــه راســره دي
د ژونــد د هــر پــړاو دې تصــویرونه راســره دي

اغیار به دې زما له څنګ نه بیل نه کړي پښتونه
د یـو ژبـې ، کلتـور ، وینـې ، هډونـه ، راسـره دي

جــونګړه کــې اوســېږو د محــل پرواګیــر نــه یــو
د مینــې نــه جــوړ شــوي محلونــه راســره دي

منزل پـه لـور روان یـو خـو هـدف مـو معلـوم نـه دی
د ســـتړي ژونـــد پـــه لاره مزلونـــه راســـره دي

د امن پسې ګرځو د وحشت تورو تیارو کې
نیولي مو په لاس بل مشالونه راسره دي

اخر به دا د ظلم کاسه یو ځل نسکورېږي
د صبر چې بې شماره دلیلونه راسره دي

**بېدار** یواځې نه دی د پښتو عاشقان ډېر دي
چې ویاړ مو د شملو دي ډېر سرونه راسره دي

## دوه شعرونه

یار مې وو خو یار مې په خوا نه راځي
لیرې رانه تللی دی بیا نه راځي

ډېره موده اوشوه چې جدا یو مونږ
اوس ئې هم سلام په هوا نه راځي

# مینه او نفرت

سړي چې شي سړي په څو سړو کې حسابېږي
هغه سړي به څه کړي چې سړو ځنې پټېږي

پښتون هغه پښتون وي چې د قام او وطن غم خوري
پښتون په پښتو د روند شي میړنو کې حسابېږي

نفرت چې یې په زړه کې وي د مینې بې خبره
بې مینې ژوندون څه وي بس په مړو کې یادېږي

سپرلي د ژوندانه به یې خزان شي بې له مینې
چې څوک نفرت راخپل کړي او په مینه نه پوهېږي

**بېدار** د مینې دود ته په درنه سترګه کتلي
نفرت نه یې نفرت دې مینه ډېره یې خوښېږي

# بې وخته اختر

هرڅه په خپل وخت راځي بې وخته چې اختر نه شته
داسې د بې وخته کار کولو څه اثر نه شته

مینه مې خو ښېږي ،مینه غواړم مینه ژوند ګڼم
ژوند پیکه پیکه شي چې د مینې مې دلبر نه شته

ژوند کې د بدلون او تحول خیال یې نیمګړي شي
څوک چې پوهه نه لري او لاس کې یې هنر نه شته

ځان ورته هوښیار ښکاري او نور خلک ناپوه ګڼي
داسې به مغرور وي چې ترې بل څوک معتبر نه شته

وخته ډېر بې وخته دي د ژوند دایره تنګه کړه
توره شپه اوږده ېږي هیڅ درک د روڼ سحر نه شته

هغه مشران نشته چې د قام فخر او ویاړ به وو
اوس **بېداره** ټول قام کې رېښتني یو رهبر نه شته

# دځان قاتل

ګرځمـــه بـــې لارې زه پـــه ورکـــه لار روان یمـــه
ورک یمـه لـه ځانـه پـه لټـون کـې دخپـل ځـان یمـه

ځـان لـه ځانـه غـوارم چې زه څـه یمـه او څـه بـه شـم
اوښـکه یـم دسـترګو بـس روانـه پـه ګریـوان یمـه

وژارم کـه وخانـدم دخپـل قسـمت پـه حـال مـې زه
مرمـه بیـا هـم ژونـد کـړم بدقسـمته یـم افغـان یمـه

هـري خواتـه اور دي شـني لـوخړي د بـارودو دي
وسـومه لمبـه شـوم زه دجنـګ هغـه میـدان یمـه

تیـر شـول ډیـر کلونـه چـې بـه سـوله آمـن وویـنم
زه پـه ګـران هیـواد کـې تـل دآمـن پـه ارمـان یمـه

خانـدي او کـه ژاړي زه یـې ژونـد پـه بیـه اخلـم
زه بـه جنتـي شـم خیـر قاتـل کـه د خپـل ځـان یمـه

# جانان

بیا مې په زړه راوریدلی جانان
زما دګل په شانه ښکلی جانان

سترګې مې خار د هغې لارې کوخې
په کومه لاره چې نن تللی جانان

خدای خبر ولې مرور غوندې شو
بیا راته چا دی لمسولی جانان

خبر دې هر ناز به یې په سترګو ورمه
په ما دې ډیر زیات نازولی جانان

د ګل ځواني دسپرلي حسن لري
**بیدار** په ښکلو کې منلی جانان

# وطن

اې زما خوږه وطنه
ته مې ځاله د زېږون يې
ته مې تن ته مې وجود يې
ته ټاټوبې د پښتون يې
ته مې مينه ته مې ساه يې
وسيله مې دژوندون يې
اې زما ګرانه هيواده
په تا څه وشو څه کېږي
هر يو کلی دې اور اخلي
هريو ښار دې لمبه کېږي
کاڼي بوټي ځنګلونه
دي د جنګ اور کې سوځېږي
دشمن هيڅ اسره و نه کړه
زړه يې اوس هم نه يخېږي
خپل منځي جګړو تباه کړي
اوس لا نور درته ګواښېږي
تور او سپين سره يو شوي

بیا څه چل دې څه به کېږي
اې زما ګرانه وطنه
ستا بچي ستا دښمنان دي
د اغیارو په ډالرو
وړي شوي دي لیوان دي
ستا په غوښو نه مړېږي
تا به پلوري تجاران دي
اي زما ګرانه هیواده
مونږ دا سوال کوو له ربه
غلیمان دي ټول برباد شه
ستا دا شاړي للمې ځمکې
وچ ډاګونه دي آباد شه
هر وګړې ستا په زړه کې
تل خوشال اوسه او ښاد شه
چې مې زړه **بیدار** ژوندی شي
دشمنان دي نامراد شه

# ساندې

ډېرې ژړا نه يې دسترګو نه لمبې ووتې
چې يې د کلي نه څو غبرګې جنازې ووتې

د درد په کورکې يې په اوښکو روژه ماته کړله
د ورېي نس نه يې يو څو کوکې تيرې ووتې

قيصه اوږده وه خو قيصه يې هيڅ کولي نه شوه
سلګو نيولي وو د خولې نه يې توبې ووتې

اه د مظلوم ورته هيڅ نه ښکاري پروا يې نه وي
که ورته هر څو د مظلوم د زړه ښيرې ووتې

دغه تضاد دې چې څوک ژوند کوي څوک ژوند تيروي
د چا محل د چا کيږدۍ کې يخې شپې ووتې

" **بيداره** "ساندو کې به خوند د اتڼونو څه وي
چې د رباب نه د پښتو د ساز نغمې ووتې

# اظهار

خوبونه د انسان په خپل اختيار کې کله نه وي
سوچونه هم د خپل ځان په مدار کې کله نه وي

د کلي په ورشو کې د ښايست سپرلي ګل شوي
ښکلا بيا د سپرلي په دغه ښار کې کله نه وي

چې حسن سينګار شوي د قدرت په ابتکار وي
د جسم حقيقي ښکلا سينګار کې کله نه وي

که هر څومره اوچت شي خو ميوه نيولي نه شي
د يو موسم ميوه خو په چينار کې کله نه وي

فطرت چې يې د حسن رنګ ته څومره ښکلا ورکړي
سکون چې يې تالاشي خوند بهار کې کله نه وي

په شونډو چې رانه شي او په زړه کې دي مېلمه شي
**بيداره** دغه خوند د خولې اظهار کې کله نه وي

# خوبونه

د چا خـوارہ یادونـه مـې خوبونـه تښـتوي
ارمـان مـېد ارمـان نـه امېدونـه تښـتوي

دخپـل فکـر او سـوچ نـه مـې ګیلـه هلـه پیـدا شـي
چـې ذهـن نـه مـې وخـت پـه وخـت شـعرونه تښـتوي

دا ځینـي شـاعران کلـه اختـه پـه دې مـرض شـي
د خـولې نـه بـه راوتـي سـتا لفظونـه تښـتوي

چـې چـور تـالان شـروع شـي د فسـاد پـه ادارو کـې
څـوک یوڅـه څـوک بـه بـل څـه څـوک مېزونـه تښـتوي

پـه یـو نظـر کتـو بـه دې زړه ټـول ځـان سـره یوسـي
ښـکلا یـې دومـره زور لـري چـې زړونـه تښـتوي

ټوپک به لاس کې درکړي او قلم به درته مات کړي
دعلم دښمنان بس کتابونه تښتوي

انسان ن نه جوړ حيوان شي دعزت پروا يې نه وي
چې څوک حوس لپاره ناموسونه تښتوي

**بېداره** په سرونو تجارت دې شروع شوي
قاتل به شي د مړو نه سرونه تښتوي

## انسان

زۀ څنګه انسان يم چې انسان سره په جنګ يمه
ځان راباندې ګران دی خو خپل ځان سره په جنګ يمه

خپلې ناپوهۍ نه مې خپل کور پخپله وران کړلو
وياړم چې افغان يم خو افغان سره په جنګ يمه

# پېښور او کابل

تــه پــه مــا بانـدې اباد يـې زه پـه تـا بانـدې ابـاد يـم
پېښــوره تــه مــې كــور يــې زه كابــل د استا بنيـاد يــم

چــې پــه مــا ســخته راغلــي مــا دا ســتا لمــن نيــولي
اوس مــې ثلـه شـړې ځان نـه ټول د يـو نيكـه اولاد يـم

دا چــې لروبــر يــاد ېږو خــو وجــود زمــونږه يــو دې
تــه پــه مــا بانـدې نـاز وكـړه زه هـم وايـم پـه تـا ښـاد يـم

كه دښمن هر څو كوشش كړي ما له تا ځنې جدا كـړي
مورږ هيڅوک بيلوي نه شي د "پښتون په نامـه "يـاد يـم

پـه جنګونـو كـې رالـوي شـو، پـه جنګونـو كـې روان يـو
''نـا پوهي" مــو تبـاهي ده، لــه دې غمــه پــه فريـاد يــم

یو کلتور ، یوه مو ژبه ، یو مو وینه یو مو دین دې
یو مو خاوره پښتنه ده که، برباد شوي زه برباد یم

محبت به وسیله کړو د نفرت "زنځیر" به مات کړو
بیا به و ښایو جهان ته چې په مینه کې "فولاد "یم

زه **بېدار** د پښتون منځ کې د نفاق طرفدار نه یم
څوک خفه که خوشالېږي زه په خپل فکر ازاد یم

## چغه

یو رڼا راته دلیري نه ښکاره شي
چې نزدي شم رڼا ورکه شي تیاره شي

چې دردونه په سینه کې را ایسار کړم
خولې له راشي یوه چغه شي ناره شي

# پښتانه

نـــور قومونـــه پرمختـــګ کـــوي روان دي
خـو افسـوس چـې پښـتانه خپلـو کـې وران دي

نـــړۍ ورســـيده ســـتورو کـــې اوســـېږي
دوي اختـــه پـــه دشـــمنۍ کـــې د ډيـــران دي

نـــه د زده کـــړې طلبګـــار وي نـــه دعلـــم
خـــو چـــې جنـــګ وي پـــه لښـــکرو ور روان دي

خلـــک ژونـــد کـــوي د ژونـــد پـــه راز پـــوهېږي
دوئ لـــه ژونـــد نـــه بـــي خبـــره د خپـــل ځـــان دي

د غربـــت څـــادر يـــې غـــاړې نـــه راتـــاو وي
نـــور څـــه نـــه وي صـــرف د خيټـــې نـــوکران دي

چـــې **بېـــدار** نـــه شـــي لـــه خوبـــه دا بـــه کېـــږي
دوي د خپلـــه لاســـه تـــل څيـــري ګرېـــوان دي

# ګيله

ستا لــه مــا او زمــا ســتانه ګيلــه کيــږي
دهــر چــا اوس د هــر چــا نــه ګيلــه کيــږي

د دنيـــا څـــه عجيبـــه غونـــدې قـــانون دي
د غريـــب د وخـــت بادشـــاه نـــه ګيلـــه کيـــږي

زوي د پـــلار نـــه مـــره ور دې وروړلـــه وروره
د نمســـي د خپـــل بابـــا نـــه ګيلـــه کيـــږي

چـــې د حــق پــه وينــا ژبــه يــې ګــونګۍ شــي
ســتا بــه خــود د هغــه چــا نــه ګيلــه کيــږي

چـې پـه کـال کـې يـې سـلام کـلام رانـه شـي
پــه همــدي مــې د اشــنا نــه ګيلــه کيــږي

پـــه غـــو ســـه يـــې راتـــه وويـــل **بيـــداره**
پــه ريشــتيا مــې نــن لــه تــا نــه ګيلــه کيــږي

# د شګو مزل

څپې څپې د بحر کنارو نه لیرې ځي
سکون مو د ژوندون د دایرو نه لیرې ځي

لمبې لمبې وختونه مو د زړه په کور تیرېږي
لوګی لوګی وجود مو د ایرو نه لیرې ځي

په نیمه شپه راپاڅېږم د ژوند غمونه شمارم
خوبونه مې د سترګو د لېمو نه لیرې ځي

دا ځمکه ده په منډه او که وخت په منډو شوي
په منډه منډه ځمکه مې د پښو نه لیرې ځي

په شګو کې مزل دې خپل منزل ته نه رسېږي
د ژوند په اوږو بار شي قافلو نه لیرې ځي

**بېداره** سپینو اوښکو یې پر مخ کړي لارې جوړې
شوې کرښې کرښې ، کرښې اننګو نه لیرې ځي

# تور او سپین

د وخت په بدلیدو سره بدل زما مراد شي
چې نه مې یادوو نو هم هغه راته را یاد شي

د مینې اندازه به یې د دي نه درته لګي
چې ویې ګوري مخ ته او زړګي دي پرې اباد شي

جاهل چې دي قاضي شي او قاتل دي څښه ور شي
کافر به درنه جوړ کړي او روا په تا جهاد شي

وطن چې یې په ډېره بې شرمۍ خراب تراب کړ
هماغه قهرمان شو او اتل به د هیواد شي

انصـاف ګوتـه پـه خولـه شـو او دحـق خبـره ګونکـه
خـاين چـې دي رهبـر شـي زنـده ګـي بـه دې بربـاد شـي

چـې تـور پـه کـې سـپينږي اوسـپين سـل رنګـه تـوريږي
مظلـوم پـه کـې بنـدي شـي او مجـرم پـه کـې ازاد شـي

**بېداره** چـې لـه بېخـه يـې بنيـاد کچـه او سـپک وي
هغـه مـانړۍ نړيـږي چـې کمـزوری يـې بنيـاد شـي

## قطعه

ګنـاه مـې داده چـې ګنـاه بانـدې مـې نـه يـم خبـر
پـه خپلـه سـهوه او خطـا بانـدې مـې نـه يـم خبـر
سـترګې مـې اور اخلـي او وينـې پکـې اوځلېـږي
اوښکې مـې تـوی شي خـو ژړا بانـدې مـې نـه يـم خبـر

# ځان ځاني

په یو مالت کې اوسي دیو بل نه ، نه خبرېږي
شوه مینه په کې کمه خپل د خپل نه ، نه خبرېږي

په رزق پسې منډې دي سحر نه تر ماښامه
د ژوند په دې مزل کې څوک د زغل نه ، نه خبرېږي

هر څوک په توبو سر دي خو قیصه معلومه نه شوه
څه وشو څه چل کېږي څوک د چل نه ، نه خبرېږي

عجیبه ماشوره ده سر یې هیڅ نه معلومېږي
اوږده دا مسله شوه څوک یې حل نه ، نه خبرېږي

په نورلس کې روان یو لاتر اوسه مو شل نه کړه
**بېداره** داسې ژوند دی څوک یې شل نه ، نه خبرېږي

# بې رنګه زندګي

د رنګونو په دنيا کې ، څه بې رنګه زندګي ده
ژوند د هر چا خوار و زار دی ، دا لا څنګه زندګي ده

نه رښتينې محبت شته ، نه په چا کې صداقت شته
په دوکو ژوند تيرول دي ، څه بد رنګه زندګي ده

ژوند ژونديو نه بيزار دې ، د قدرت عجيبه کار دې
چاته ژوند شاهانه ورکړي ، چا نه ، تنګه زندګي ده

څوک خوبونه په پالنګ کړي ، تل د خپل جانان په څنګ کې
څوک په خاورو کې ويده شي ، څه ملنګه زندګي ده

جنګ زمونږه په نصیب دی ، جنګ په مونږ راتپل شوی
د هغو خو په نصیب کې ، بې له جنګه زندګي ده

اوس هغه سازونه نه شته ، د ژوند ټول انداز بدل دی
څه بې خونده ژوند روان دی ، بې اهنګه زندګي ده

د سکون په لټه لټه ، نړیوال کلي کې ګرځم
د **بصیر بېدار** نصیب کې ، رنګه بنګه زندګي ده

## قطعه

د هدف په لټون ګرځو د کاروان سره روان یو
یا به رسو تر منزله یا به پاتې په مېدان یو
که یو موتی یو اواز شو نو منزل ته رسیدای شو
که یو نه شولو ورکېږو موږ به تل په ویر د ځان یو

# منډې

د ځـان نـه تښـتمه خپـل ځـان راپسـې منـډې وهـي
ارمـان مـې دادی چـې ارمـان راپسـې منـډې وهـي

چـې ليـونی شـوم لـوی واړه مـې اوس پـه کـاڼو ولـي
ځکــه د کلــي ماشــومان راپســې منــډې وهــي

څنګ به ترې خلاص شمه بلا ډېر دي او تـول غېبرې
الله دې خير کړي سپي د خـان راپسـې منـډې وهـي

ښخــوا بــه مــا منــډې وهلــي د جانــان لــه پــاره
اوس پـه بـدل کـې مـې جانـان راپسـې منـډې وهـي

مـا خـو سـره ډوډۍ دخيـر وړلـه خپـل ورېي ورور تـه
د غـلا پـه تـور اوس لـوي کـاروان راپسـې منـډې وهـي

**بېدار** پـه منـډو منـډو سـتړې شـوم پـه ځـای ودريـدم
دوي سـتړي نـه شـو هـر زمـان راپسـې منـډې وهـي

# سترې مزل

سترې شوم منزل ته رسېدل ګران شول
نه رسم دېدن ته يې ورتلل ګران شول

ډېر مې قسمونه ورته وکړل خو
نه يې منې نور قسم خوړل ګران شول

څم به يې د چم نه چرته ليري ډېر
دې کلي کې ماته اوسېدل ګران شول

ويني ويني کرښې ترېنه جوړې شوې
ښپې مې شوې تنها کې ګرځېدل ګران شول

شونډې مې ګنډلې سترګې هم ګنډم
کفر شول ويل او هم ليدل ګران شول

ډېر دې خپل نصيبه ژړولی يم
ژوند کې دې **بېداره** خندېدل ګران شول

▪

# نوی کال

کال به بدلیږي وخت تیریږي خو مونږ نه بدلیږو
خلک دې ستورو کې اوسیږي خو مونږنه بدلیږو
دنیا بدله شوه اوس جنګ اقتصادي روان دی
زموږ به تل ویني تویږي خو مونږ نه بدلیږو
موږ پښتانه یو مونږه ځان وژنو د بل له پاره
که مو خپل کور په کې ورانیږي خو مونږ نه بدلیږو
موږ اتفاق په دې کوو چې اتفاق به نه کړو
که بیا هرڅه راته پیښیږي خو مونږ بدلیږو
څو ورځې ژوند دی خو هغه هم دشمنۍ کې تیر شي
عمر مو ورځ په ورځ کمیږي خو مونږ نه بدلیږو
په دې سوکړه ځمکه به بیا اسمان ډیر وژاړي خو
باران د رحم به وریږي خو مونږ نه بدلیږو
**بیداره** هرچا د بدلون بدلون ناري وهلې
له مستۍ ټول ورته ګډیږي خو مونږ نه بدلیږو

# ارمان

په وینه چې څه وینم خوبونو کې راځي
هغه مې د زړه کور ته په خیالونو کې راځي

سیلاب یې د غربت کور په اوبو باندې لاهو که
کړکۍ او دروازې یې په سیندونو کې راځي

ګودر به یا اباد شي او منګي بیا ګډ بړي
د مستو پیغلو شور به ګودرونو کې راځي

اخر به یوه ورځ د راتلو زیری یې راوړي
دا آمن خو به بیا یو ورځ کلونو کې راځي

حجرې به شي ابادې او منګي رباب به ګرم
نغمې به یې د مینې په سازونو کې راځي

**بیداره** هر ارمان پوره کیدل به درته ګران شي
ارمان به دې تش خیال په امیدونو کې راځي

# د زمانې بدلون

بدلــه زمانــه شــوه کــه بــدل شــولو وختونــه
ځوک مري په کې د لوږې د چا ډک شولو جيبونه

پــرون چــې چــا د کلــي نــه پــه زوره وو شــړلي
نــن وايــې د ملــک کــره مــې وتــړل آســونه

په چور او په تالان يې محلونه ځان ته جوړ کړل
جــونګړه د غريــب بانــدې يــې بــل کړلــه اورونــه

دا څنــګ مســلماني ده او دا څــه رنګــه جهــاد شــو
چــې وژنــي انســانان او غوڅــوي ورنــه ســرونه

ځوک داسې زوراور شي د هوس په ليونتوب کې
پــه زوره بــه نکــاح کــړي د بــې وزلــو خلکــو لوڼــه

پخوا چې يې سورلۍ لپاره خر موندلي نه شو
ولاړ يې دي په کور کې اوس بې شماره موټرونه

نه علم نه تعليم شته سفارش او رشوت زور دي
پيسو باندې خرخېږي د دولت مهم پوستونه

د کوم عمل يې وکړمه غندنه دومره ډېر دي
**بېداره** ډېر پرې وليکه همدغسې شعرونه

## قطعه

ډېرې مستۍ نه ئې مخ سور شولو برېتونه سرهٔ دي
زمونږ په وينو ئې جوړ کړي محلونه سرهٔ دي
داسې ئې وداړلو ، يو اندام مو روغ نهٔ ښکاري
د دوي د لاسه مو د کور تول ديوالونه سرهٔ دي

# سیلی

لکه سیلۍ وه را لوتله خو ما نه لیدله
له ما نه ګرده تاویدله خو ما نه لیدله

هر مازیګر به شو لمبه بام به رڼا کوله
د بلۍ سرته به ختله خو ما نه لیدله

په وار خطا نظر یې یو دم راته وکتل خو
لکه د پا ڼې رپیدله خو ما نه لیدله

د ښاپیرو رانجه یې پورې کړه په خپلو سترګو
بله دنیا کې ګرځیدله خو ما نه لیدله

یو جادوګر شانته اواز مې غوږ ته ورسیده
بس صرف ټپه مې اوریدله خو ما نه لیدله

**بېداره** ړوند نه ووم ړنده راته دنیا ښکاریده
ښپو نه مې ځمکه تښتیدله خو ما نه لیدله

# بې روحه جسد

لا مې نظر کې ستا د حسن تصویرونه ګرځي
خیال کې مې هغه د تنکۍ ځوانۍ خالونه ګرځي

ما ویل تنده به مې ماته شي اوبه به وڅښم
لاس کې مې جام پکې د وینو سره رنګونه ګرځي

هر خوا مې مینه لټوله خو پیدا مې نه کړه
په کاڼو زړونو کې یوازې نفرتونه ګرځي

پخوا به خلک ګرځېدل څه ویره ترحه نه وه
اوس خلک نه ګرځي په خلکو خپل سرونه ګرځي

**بیداره** دې کلي کې ټول خلک بې ساه ښکارېږي
ساه په کې نه شته دې بې روحه جسدونه ګرځي

# انتظار

ستړګې مې دستړګو دچا څار کوي چې رابه شي
هر وخت دراتلو یې انتظار کوي چې رابه شي

سوله غواړم ، سوله مې ارمان دې او د امن ژوند
هر وخت مې زړګې ورته تلوار کوي چې رابه شي

ودې ویل راځم خو د راتلو پته دې نه لګي
زړه مې په وعده ستا اعتبار کوي چې رابه شي

هر کال چې تیرېږي په د یوال کرښې را کاږمه
ګوتې مې همېش د کر ښو شمار کوي چې رابه شي

بیا یو بوډۍ مور د خپل اولاد دخیر غوښتو په نیت
ټوله شپه مونځونه تر سهار کوي چې رابه شي

ستړګه مې ریبېږي راته ښکاري چې راځي جانان
څوک به یې بیا زېري په **بېدار** کوي چې رابه شي

# خبره څنګه وکړم

زه به د ځان د تیر ایستو خبره څنګه وکړم؟
دا څه چې وینم د لیدو خبره څنګه وکړم؟

هغې له مخکې نه ژړل زړه یې پولې پولې وو
بیا ورته نور د ژړیدو خبره څنګه وکړم؟

سلګو نیولې وومه کړیکه مې د خولې ووته
ددې ناسور دجوړیدو خبره څنګه وکړم؟

لکه د یو وجود د جسم برخه نه بیلدو
د هغه یار د پرېښودو خبره څنګه وکړم؟

د وینو کرښې مې په خپل بدن کې ولیدلي
د دومره ظلم د قیصو خبره څنګه وکړم؟

د ژونـد بلبـل هـم د سـندرو نـه توبـه وویسـته
د ویـر پـه چـم کـې د نغمـو خبـره څنګـه وکـړم؟

د نیمې شپې ټپي په هر چا باندې ښي لګېږي
خـو د غـم شـپه کـې د ټپـو خبـره څنګـه وکـړم؟

چاچې وطن خرڅ کړاو خاوره یې په وینورنګ کړه
ددې بـې مثلـه پرېښـتو خبـره څنګـه وکـړم؟

پـه هـر څـه پـوه یـې خـو پـه دې خبـره نـه پـوهېږي
**بېـداره** سـتا د پوهیـدو خبـره څنګـه وکـړم؟

---

اوس چې سور رنګ وینم ، سترګې پټوم یرېږم
وایـم چې دا بـه وي د کـوم پښـتون د وینـو کرښـې

# مرور

لــه مــا نــه مــره ور شــوي کــه لــه ځانــه مــره ور
بيــا ځنــګ خفــه خفــه ګرځــي جانانــه مــره ور

همېش به پرېشان ګرځي دخپل مالت کوڅو کې
اشــنا چــې شــي ملګــرو د اشــنا نــه مــره ور

دنيـا کـه مـره وره وي نـو هـيڅ پـروا مـې نـه وي
پـه زړه مـې څـه چـل وشـي چـې شـي مانـه مـره ور

ريشـتيا چـې ډېـره سـخته وي هغـه لحظـه د ژونـد
د چــا چــې خــوږ جانــان شــي بــي ګمانــه مــره ور

هغـه چـې نـن خفـه دي تـاواني شـو کاروبـار کـې
دا تــه ولــي خفــه شــوي بــي تاوانــه مــره ور

**بېداره** تـا خـو ويـل ، چـې جانـان نـه مـره وربړي
هغــه خــو پــه ريشــتيا شــو نــن لــه تانــه مــره ور

# په خوله ئې نۀ یادوم

پټ یې په خپل زړه کې ساتم په خوله یې نه یادوم
غــم مــې سـینه ګرځــوم پــه خولــه یــې نــه یــادوم

قسـم دې یـاد یـې لیـوني کـړم سـودایې غونـدې شـوم
پــه لاره ځــم ګــوتي شــمېرم پــه خولــه یــې نــه یــادوم

ســتا د وعــدو حســاب کتــاب راســره شــو مکمــل
پــه کتابچــه کــې یــې لــیکم پــه خولــه یــې نــه یــادوم

مــا دژونــد تــولې خوشــالۍ ورتــه ځــولۍ کــې یــوړې
تشــه ځــولۍ بیرتــه راوړم پــه خولــه یــې نــه یــادوم

د ګــل پــه پــاڼو مــې تصــویر د زړه پــه وینــو جــوړ کــه
اوس یــې تحفــه کــې ورلېــږم پــه خولــه یــې نــه یــادوم

په نیمه شپه اسمان ته وګورم او ستوري شمارم
د خپل بخت ستوري لټوم په خوله یې نه یادوم

یوه لحظه یې هم د خپل څنګ نه جدا نه کړم
تصویر یې جیب کې ګرځوم په خوله یې نه یادوم

په خوب ویده جانان زما په زړګي لوبې کوي
خوب نه یې نور راویښوم په خوله یې نه یادوم

یو موسکیدلی شان تصویر مې له نظره تیر شو
دغه موسکا تمثیلوم په خوله یې نه یادوم

**بېدار** چې دا غزل لیکه له مانه ، نه وو خبر
لړ یې د خپل حال خبروم په خوله یې نه یادووم

# د منزل په لټون

په ورو ورو قدمونو د ارمان په لوري ځم
خپل سیوري راسره دې او د ځان په لوري ځم

وزري مې د باز د ښو جوړي کړي روان شوم
د باز په شان به پورته د اسمان په لوري ځم

هدف ته رسیدل غواړم منزل دې رانه لیري
مقصد مې دې نیمګړې د ګمان په لوري ځم

تصویر یې ښکلومه خپله تنده ماتومه
د کلي کورنه لیري د جانان په لوري ځم

یو څوک خو به پیدا شي په دې شته لویه دنیا کې
چې غم راسره نیم کړي ټول جهان په لوري ځم

پښتون یمه نو ځکه زولنو سره بلد یم
د قام په نام او ننګ به د زندان په لوري ځم

د امن د سپرلي د خوشبویي په لټه
کاروان دې رانه تللي د کاروان په لوري ځم

سکون به چرته ګورم نور له شوره مې زړه تنګ دې
په ښار کې مې زړه تنګ دې د بیابان په لوري ځم

**بېداره** څومره ښه به وي هغه شېبه د ژوند
یاران چې راسره وي د پغمان په لوري ځم

---

سترګې چې په سترګو کې د سترګو نه څۀ وغواړي
نور به چا نه څۀ غواړي؟ زړه به درکړي زړه غواړي

# د ارمان ډیوه

زمـــوږ د ارمـــانونو او یـــادونو ډیـــوې مـــړې شـــوې
رڼـــا لـــه ژونـــده لاړلـــه تـــورتم تـــورې تیـــارې شـــوې

ددې وطـــن بـــازار کـــې هـــر چـــا خپلـــه ســـودا وکـــړه
د چـــا پـــه کـــې تـــاوان وشـــو د چـــا پـــه کـــې مـــزې شـــوې

قیصـــه یـــې لـــه درد ډکـــه وه ســـلګو کـــې یـــې شـــروع کـــړه
پـه مخ باندې یې مـړاوې رڼـې اوښکې راخورې شوې

د چـــا ســـره چـــې زر او زور وي هـــر ځـــای کـــې ازاد وي
غریـــب وره کـــې ولاړ دی پســـې بنـــدې دروازې شـــوې

تر څو چې دا تضاد وي او په حق ستر ګې ړند پرې
اولس به خوارو زار وي تولې هيلې بې اسرې شوې

موږ هره ورځ افسوس کوو او لاس دعا ته جګ کړو
چې هر کلي نه جګې يو څو غبر ګې جنازې شوې

**بېداره** د انصاف طمع ترې کله پيدا کېږي
فساد چې ختم نه وي بې انصافه فيصلې شوې

---

## مينه

تا ويل مينه خلک څه ته وايي
ما ويل مينه ليوني کړي سړی
تا ويل چې دا به هم د مينې کار وي
چې زوږ نه ځوان جوړ کړي زلمی کړي سړی

# خوارۀ خوارۀ

نـن بیـا یـې راتـه وکتـل خمـار خـوارہ خـوارہ
پـه لیچـو د بنګـړو یـې کـوه شـمار خوارہ خـوارہ

د مـخ پـه اننګـو بـه یـې د اوښـکو امېـل جـوړ شـو
تصـویر تـه یـې کتلـي هرسـهار خـوارہ خـوارہ

هغـه شـیبه د ژونـد بـه مـې هیڅکلـه هیـره نـه شـي
چـې لانـدي دوارہ ناسـت وو دچینـار خـوارہ خـوارہ

یادونـه یـې د شـپې سـیلۍ لـه ځانـه سـره راوړي
غږیـږي تـرنم کـې د سـیتار خـوارہ خـوارہ

الفت یې دومره ډېر وو چې اقرار یې کوې نه شو
د سر په اشاره یې کړو اظهار خوارېه خوارېه

زما سره جوړه ګرځي زما سره روان وي
دا څو تنه یاران مې دي په شمار خوارېه خوارېه

دي څاڅکو د باران کې نغمور شاتته سکون دي
وربږي چې د پاسه په **بېدار** خوارېه خوارېه

## قطعه

څاڅکي څاڅکي د باران چې راوربږي
ستا یادونه مې د زړهٔ نه راتاوېږي
د باران د څاڅکو شور او خاموشۍ کې
د یادونو سلسلې دي تازه کېږي

# د جنګ لوبه

په خپلو کې په جنګ یو شیطانانو لوبه وکړه
زمونږه په هیواد کې خارجیانو لوبه وکړه

د یو وجود اندام یې په ځلورو ټوټو بیل کړ
پښتونه ستا بیلتون کې انګریزانو لوبه وکړه

په خاوره د پښتون یې د نفاق اورونه بل کړل
لمبې پکې بلېږي دشمنانو لوبه وکړه

د لویې لوبې ستېږه یم دی نړیوال په کې لوبېږي
روسانو کړه شروع، امریکایانو لوبه وکړه

که یونه شو ورکېږو د غه قول د بابا دی
زموږ په ورکیدو کې پنجابیانو لوبه وکړه

پر دی جنګ یې راوړی دی زموږ د کلي مېنځ ته
ایران هم لوبه وکړله، هندوانو لوبه وکړه

**بېداره** " مسلمان د مسلمان په لاس قتلېږي
څه خپله مسلمان څه کافرانو لوبه وکړه

## تصویر

ستا تصویر سره مې خپل تصویر جوړه که
څکه ډېر رابانديې ګران یې د خپل ځانه
بې له تانه مې ژوندون پیکه پیکه دی
راشه راشه د ښکلا د کلي خانه

# اعتبار

ماچې په ژوند کې په هر چا اعتبار کړی دی ډېر
هغې مې هر وخت زړه لوټلی درد ولی دی ډېر

د زمانې سرې تودې مې ژوند ته کله پرېږدي
ستم او ظلم مې د وخت په ځان زغملی دی ډېر

کوم ظلم یاد کړم چې په خاوره د پښتون به نه وي
لر دې که بر دې خو پښتون یې ژړولی دی ډېر

دشمن مو نه پرېږدي یو والي ته چې آمن راشي
دنفاق تخم یې په هره خوا کرلی دی ډېر

خدایه په لر وبر دامن وړمې بیا خوري که
مظلوم ولس مو دي نا خوالو کړولی دی ډېر

**بیداره** چاته وایې، څوک یې اوري ؟ ټول کاڼه دي
مونږه د حق داستان هر چاته اورولی دی ډېر

# دشمن

دا چې زما کور ورانوي ما وژني
یو زموږ دښمن دي ما او تا وژني

شپه مو په سلګو اوښکو کې تیره شي
غم دبي وسۍ مو هر سبا وژني

سر په زنګون کیدم چې ویده به شم
خوب نه راځي هسې مې سودا وژني

زه ورته کوم نوم د وحشت ورکړمه
لوی واړه زموږ چې بې ګناه وژني

لـر دي او کـه بـر دې خـو پښـتون بـه مـري
پـټ نـه دي ښــکاره يـې بـرملا وژنـي

خدايـه هغـه تـول کانـدي هـلاک بربـاد
ځـوک چـې مـوږ دهـر ځـا پـه سـلا وژنـي

بــس کــه ريښــتيا مــه وايــه **بېــداره** نــور
ډېــر دوي پــه ويلــو ، د ريښــتيا وژنــي

## قطعه

تــا وکــړه کــه مــا وکــړه ځــا دا نــاروا وکــړه
ځــوک بــه قضــاوت وکــړي ځــا دغــه تــا دا وکــړه
مونږه ئې په خپـل مينـځ کې يو بل ته حېران کړلو
ځا مـو کـور تـالا کـړلـو ځـا مـو کـور نـه غـلا وکـړه

# بې سکونه ژوند

ستا د ېرو وعدو له کاره وویستم
غم او اند ېښنو له کاره وویستم

امن پسې ګرځم چې به چرته وي
نور دغه جګړو له کاره وویستم

ما چې به پر ي د ېر زيات اعتبار کوه
خدايګو چې هغو له کاره وویستم

زه په ګل مين حسن پرست يمه
ګل سره ازغو له کاره وویستم

هره ورځ يو نوي تماشه وينم
نور يې په توبو له کاره وویستم

هره شپه " **بېدار** " يم ستا يادونو کې
بس دي شوګيرو له کاره وویستم

▪

# خاطري

کله مې په خيال کې څه خيالونه داسې راشي
ډوب په تخيل کې څه فکرونه داسې راشي

وخت هم داسې تيرشي لکه تيرچې شي جکړ باران
کله ورسره هم طوفانونه داسې راشي

دا د تفکر دنيا څه بل شانته رنګينه شي
کله چې دا ستا خواږه يادونه داسې راشي

درد سره ملګري شي او لاړشي اسويلي سره
کله چې په چا سپيره غمونه داسې راشي

کله شم بادشاه او کله ستا د در ملنګ شمه
خوب کې راته دا رنګ څه خوبونه داسې راشي

کله شي. سپرلي دژوند رنګونه شي خواره واره
کله دخزان سپيره بادونه داسې راشي

تيري خاطري به را ژوندۍ شي د **بصير بېدار**
وخت که په شا لاړ شي تير وختونه داسې راشي

## زخمي وجود

چې هېروم ئې نۀ هيرېږي نه مې زړۀ صبرېږي
درد د زړګي مې نۀ کمېږي وخت په وخت ډېرېږي
زخمي وجود مې په سلګو سلګو کې چغې وهي
بدن مې سوځي لمبه کېږي څوک پرې نۀ خبرېږي

# مسافر

جانـــان کـــډې ترلـــې ددې کلـــي روانېـــږي
کـه څـو منـت , زاري ورتـه کـوم نـه ایسـاریږي

پـرون یـې راتـه ووې چـې اوس بـه دیـدن مـې وکـه
سـبا بـه درتـه تیـر دغـه وختونـه دریـاد یږي

انســان یــو مســافر دې کلــه دلتــه کلــه هلتــه
یادونـه ئـې پـه لوبـو د یـو بـل نـه جـدا کیـږي

مـا نـه ګڼلـه دا چـې جدایې بـه مـو نصیب شـي
ســتا تــولې خــاطري خــوږې خبــرې رایــاد یږي

ورځـه پـه مـخ دې بـه شـه زه **بیدار** درتـه دعـا کـړم
همـېش اوسـي خوشـحاله کـه زمـا پـه دعـا کیـږي

# د بخت ستوری

ستا د یادونو، نه په غیر ماته نور څه پاتې دي
ډېرې خبرې مې په زړه دي خو په زړه پاتې دي

په زوره تصویر لوبي کوم ،زړه ته دوکه ورکوم
نوي رنګونه لټه ووم ، خو ټول زاړه پاتې دي

زه د خو ږو په په طمع لاړ شم دخوږو بازار ته
د خو ږو نښه ، نه وي چرته، صرف ترخه پاتې دي

تر څو به مرو تر څو به وړو مونږ، په اوږو جنازي
هغه چې وژني ، ما او تا ، هغه پاخه پاتې دي

کله به مونږ **بېدار** راوینښ شو ، چې ځان وپیژنو
زمونږ د بخت ستوري وینښېږي نه ، ویده پاتې دي

# لر او بر پښتانه

دا چې څومره لر و بر کې پښتانه دي
که په کوټه، پېښور کې پښتانه دي

د "امو" نه تر "بولانه" چې یادېږي
ټول افغان دي خو په سر کې په پښتانه دي

چې قیصې یې د ویاړونو دي را پاتې
هم په سمه هم په غر کې پښتانه دي

خو پښتون د پیدا ښت نه تر دا اوسه
ګټه نه لري ضرر کې پښتانه دي

نه په علم نه هنر باندې سنبال شو
صرف د جنګ هر یو، لښکر کې پښتانه دي

په يو کار کې اتفاق ته غاړه نه ږدي
د نفاق په هر منظر کې پښتانه دي

نه يې خپل،نه يې پردي،پرېږدي ،خپل ژوند ته
همېشه په شور او شر کې پښتانه دي

چې قيامت **بېداره** هر وخت پرې تيرېږي
په ژوندوني په محشر کښې پښتانه دي

## کچه کرښې

دا چې په ما لوبې کوي زه به يې ثنګه هېر کړم
ما چې له مانه بيلوي زه به يې ثنګه هېر کړم
په کچه کرښو بيلوي پښتون له يو او بله
چې پخې نخښې ورانوي زه به يې ثنګه هېر کړم

# د ظلم داستان

څاڅکی څاڅکی لوی دریاب شي
ورسره مل چې سیلاب شي

د غربت په کلي راشي
غریب بیا خانه خراب شي

چې د ظلم داستان اورم
زړه زما کباب کباب شي

ټوپک لاس کې راته راکړي
لاس نه لري مې کتاب شي

د بارودو په لوګو کې
رانه ورک مخ د ګلاب شي

غم زمونږ په برخه شوي
خوشالي دده جناب شي

چې دچا نصیب کوته شي
ښه یې بدو کې حساب شي

په نشو چې څوک اخته شي
ژوند یې ټول عذاب شي

څومره ظلم چې ده پرېږي
ترینه جوړ بیا انقلاب شي

**بیدار** وایې وخت نږدې دي
وخت به ستا د احتساب شي

# اې خدايه څه به کېږي

حالاتو ته چې ګورم ورځ تر ورځه خرابېږي
اې خدايه څه به کېږي
له جنګه شولو ستړي او لا جنګ پسې اوږدېږي
اې خدايه څه به کېږي

منزل دې رانه ورک د ورک منزل پسې روان يو
موږ څنګه انسانان يو
دنيا طلب د علم کړي موږ علم سره وران يو
موږ څنګه انسانان يو
موږ تل اخته په ځان يو بس يو وينه ده تويږي
اې خدايه څه به کېږي

طالب ښه په مستۍ وو اوس داعش پکې پیدا شو
اختــه پـــه څـــه بـــلا شـــو
د جنګ نقشه بدله شوه خودکش په کې پیدا شو
اختــه پـــه څـــه بـــلا شـــو
بمبار کې د ناڅو هم بې ګناه خلک مړه کېږي
اې خدایه څه به کېږي

پښتون وایې چې زه یم هزاره وایې چې زه یم
تاجک وایې چې زه یم
ترکمن مورچه کې ناست دي خو ازبک وایې چې یم
تاجک وایې چې زه یم
افغان له نومه تښتي په اسلام هم نه جوړیږي
اې خدایه څه به کېږي

اسلام د امن نوم دې او په مینه یې تړون دې
قران مو ښه قانون دې
منم چې د کافر د لاسه خاورې مو ژوندون دې
قران مو ښه قانون دې
خو بیا هم مسلمان د مسلمان سره جنګېږي
اې خدایه څه به کېږي

د ثــور کــود تــاه نــه چــې د جنــګ شــوي اغــاز دی
جهـــاد دې او محـــاذ دی
لکونه خلک ورک شول او د چا په کې کار ساز دی
جهـــــاد او محـــــاذ دی
ځلوېښت کلونـه وشـول جنـګ روان دې نـه ودرېـږي
اې خدایــه څــه بــه کېــږي

دا ســوال کــوم لــه خدایــه آمــن ســوله رالــه راکــه
نور جنګ ورک په دنیا کـه
چې چیرتـه جنګ پرست وي هم هغـه شیطان تباه کـه
نور جنګ ورک په دنیا کـه
**بېــداره** امیــد شــته چــې دا دعــا بــه دې قبلېــږي
اې خدایــه څــه بــه کېــږي

# د وخت جبر

خاموشي مې مجبوري ده زه په هر څه ښه پوهېږم
د وختونو د فريب نه مې خدای شته دي که ويرېږم

که مې ژبه کړي رابنده او قلم مې بنديوان کړي
خو زما فکر ازاد دې په ازاد سوچ مې نازېږم

ستا د ظلم هر داستان مې په سينه باندې ليکلې
خو اظهار کولې نه شم که څه وايم پانسي کېږم

تا محل زما په وينو رنها کړي دی ځلېږي
زه که خېر دې ډېر غريب يم په جونګړه کې اوسېږم

ستا د ظلم ابتدا به انتها ته ورسېږي
زه د اوسپني ديوال يم کلک ولاړ يم نه نړېږم

د وخت جبر دې "**بېداره**" څکه ژوند د غلامۍ کړي
اميد ډېر لرم له خدايه چې اخر به ازاد يږم

# چُور تالان

راشـــئ وګـــورئ اختـــه پـــه چـــور تـــالان شـــول
فســـاديان مـــو پـــه ډالـــرو ســـره وران شـــول

ښـــځې ، نـــر ځوانـــان ، واړه ، بـــوډاګـــان ژاړي
پـــه سرو وينـو کـې لـت پـت ډېـر ماشـومان شـول

تميـز ورک شـو کـه زمـوږ سترګې ړنـدې شـوې
خاينـــان مـــو د وطـــن قهرمانـــان شـــول

د دوه ســـــري حکومـــــت لـــــه برکتـــــه
لـه وطـن نـه ټـول پـه تيښـته مـو ځوانـان شـول

د اســـلام لـــه نومـــه ګټـــه هـــر ځـــاى اخلـــي
خـــود غرضـــه مـــو دا ځينـــي ملايـــان شـــول

مظلومـــان د لـــوږي در پـــه در خپـــر غـــوا ړي
زوروا کـــان پـــه کـــې ځـــو چنـــده اميـــران شـــول

د جنګونـــــو او مرګونـــــو لـــــه عذابـــــه
پـــه خپـــل کـــور کـــې ډېـــر بـــې کـــوره افغانـــان شـــول

مشـــهور چـــې پـــه لوټمـــار او جنګســـالار وو
هغـــه ټـــول د ملـــي فـــوځ جنـــرالان شـــول

د انصـــاف طمـــع تـــرې نـــه کېـــږي "**بېـــداره**"
چـــې واکـــدار مـــو د هېـــواد ټـــول غاصـــبان شـــول

## حالات

زړۀ مـــې ســـينې نـــه جـــدا کېـــږي
حـــــالات خـــــراب وو خرابېـــــږي
خدايـــه چـــې نـــور بـــه ځـــۀ پېښـــېږي
د رحـــم ســـوال مـــو نـــۀ قبلېـــږي

# څېرېکې

د درد په څرېکو چې پوه نه شي نو درمان به نه وي
د ګل په قدر چې پوه نه شي نو باغوان به نه وي

ظلم کوي ، زياتي کوي دخپل غرض لپاره
چې دانسان په درد دردمن نه شي انسان به نه وي

چې د مجنون پېښې کوي له ليلا نه وي خبر
چې ليوني مينه کې نه شي نو جانان به نه وي

چې د افغان او د پښتون له نومه ليري تښتي
ځان ته چې هرڅه وايې اصل کې افغان به نه وي

چې زور او ځوان قتلوي هر ځای کې انسان قتلوي
قاتل به وي خو په ايمان چې مسلمان به نه وي

ارمان د ژوند **بېداره** کله پوره کېږي د چا
داسې به څوک وي په دنيا چې بې ارمان به نه وي

# راز

داسې مې زړه کې پروت يې
لکه يو پټ راز چې
د چا په شونډو راشي
بيرته يې کړي دننه
تيګه پرې غټه کېږدي
چې راز يې نه شي رسوا
خو ناقراره احساس
شي د جذبو سره مل
ګوګل کې شور جوړ کړي
راز ترې نه بيا څرګند شي
راشي د شونډو سرته
اظهار د مينې وکړي
د محبت په ژبه
جهان ترې ټول خبر شي
زما د مينې په حال
هغه ترې نه خبرېږي

هغه پرې نه پوهېږي
چې په ماځه تیرېږي
مخ رانه واړوي ژر
وايې چې تا رسوا کړم
تا سره مېنه نه کوم
بیا مې داوښکو سیلاب
تر ګریوانه ورسي
وایم چې کاشکې دا راز
ما په ګوګل دننه
ترعمره وې ساتلي
نه به په شونډو راتلاي
نه به عالم خبرېدي
نه به داستا په ګوزار
**بېدار** په زړه لګیدي
نه به د یار په انکار
زما زړګي ژړیدي

# یادونه

یم لیونی چې ستا یادونو سره لوبې کوم
هسې د خپل زړه د دردونو سره لوبې کوم

د حقیقت په لټون ستا تصویر په لاس کې واخلم
چې ته رایادشې تصویرونو سره لوبې کوم

زخم د زړه مې راته وګنډه د زلفو په تار
چې کله کله دې تارونو سر لوبې کوم

اوس چې د ژوند د محبت په خوږوپوه شومه زه
خوشحالي نه شته صرف غمونوسره لوبې کوم

نور د **بېدار** د لیونۍمینې انجام به څه وي
لکه مجنون د بیابانونو سره لوبې کوم

# د ژوند قيصه

ژوند مې دی تږوله قيصه ، کومه قيصه ولیکم
د غم ځپلي ژوندون ، کومه لحظه ولیکم

څوک به د میني قیصې، یارته په خوند خوند کوي
زه قیصه چاته وکړم ، د چا نامه ولیکم

زه د وطن غمونو هر وخت ځپلي یمه
کومه صحنه یاده کړم ، کومه شیبه ولیکم

چې قلم واخلم لاس کې دلی غمونه راشي
وایم چې دا ولیکم ، که نه هغه ولیکم

**بصير بېدار** چې شومه دخوارۀ خوبه ځيني
اوس به دميني داستان ، په نیمه شپه ولیکم

# نیمګړې تصویر

چې کله شم یوائې
ستا تصور کې لاړ شم
قلم راواخلم لاس کې
داستا تصویر جوړوم
په کاغذ تورې کرښې
کږې وږې وباسم
خو څه ترې نه جوړیږي
زړه مې راتنګ شي ورته
ډیر کاغذونه وشکوم
لیرې یې کړمه ګوزار
دیوال ته ډډه ووم
وکړمه ډیر انتظار
قلم مې بیا راواخلم
چې یو غزل ولیکم
خو بیا هم نه جوړیږي

د غزل توري زما
په دې کې شپه سبا شي
ستا د تصوير په پلمه
چې ملا بانګ ووهي
زه بيا قلم راواخلم
وايم چې دا ځلي به
تصوير حتمي جوړه ووم
ستا مخ کتاب کړم ځانته
پاڼې يې اړه ومه
ستا د خايست رنګونه
په کې زير زير ګورم
زما قلم عاجز شي
ستا د ښکلا معيار ته
شروع د کوم ځاى وکړم
د ښکلو سترګو ځنې
يا دې د ښکلي صورت
د تورو زلفو ځنې
د مستي مستي ځوانۍ
چې په هر څه پوره ده
''خو'' په کې نه وينمه
يې سر تر پايه ښکلي

زه لیونی خو نه ووم
کړم محبت لیونی
چې شوم مجنون د مینې
ستا د الفت لیونی
چې شوګیرې کومه
په تصور کې دا ستا
قلم کې رنګ تمام شي
خوستا تصویر جوړ نه شي
بیا دزړه وینو په رنګ
په تصویر بیا شروع کړم
د بدن وینه مې هم
ختمه شي ستا په تصویر
وروسته د ډیر کوشش نه
تصویر نیمګړی جوړ شي
دغه نیمګړی تصویر
زړه پورې کلک ونیسم
ډوب شم دا ستا په خیال کې
فکر مې لیرې یوسي
چې خبر بدمه په ځان
ورځ هم وه نیمه تیره
ناڅاپه چا غږ وکړو

ويل **بېداره** پرېږده
دغه نيمګړی تصوير
هغه چې ته يادوي
اوس ددې کلي نه ځي
کله يې بيا بار کړې
خدای خبر چرته لاړه

---

وګـــورم اســـمان تـــه ســـتوري وشـــمارم
ګـــرد چـــاپېر جهـــان تـــه ســـتوري وشـــمارم
ګـــورم خپلـــه مينـــه لټـــوم پـــه کـــې
ســـترګو د جانـــان تـــه ســـتوري وشـــمارم

# د ژوند حادثې

د ژوندون ډېرو حادثو يوازې پرېښودمه
اشنا دا ستا تشو وعدو يوازې پرېښودمه

ما چې پرې ناز کوه ملګرې مې دلارې بلل
خدايګو په نيمه لار هغو يوازې پرېښودمه

وخته په ما دې لوبې وکړې زړه دې نه صبريده
تل دې د سره اور په لمبو يوازې پرېښودمه

ماته د ژوند د خوشالۍ سندرې اوس نه وايي
هغه د ژوند د ساز نغمو يوازې پرېښودمه

د پردو څه ګيله په کار ده ګيله خپل نه کوه
خداى خبر ولې پښتنو يوازې پرېښودمه

**بېداره** بيا به سپيره دشته کې ګلان زرغون شي
خبر دې که ګل سره ازغو يوازې پرېښودمه

# وروستی سوچ

افسوس په دې چې څومره شور کوې فايده نه لري
د پردو جنګ چې په خپل کور کوې فايده نه لري

څوک چې د پلار او مور خدمت په ژوندانه ونه کړي
بيا که ژړا ورته په ګور کوې فايده نه لري

که دې په مينه څوک را خپل نه کړه په زور نه کېږي
که د چا زړه ګټل په زور کوې فايده نه لري

چې کار کوې اول پرې سوچ کوه بيا کار انجام که
چې له شروع نه کار بې سور کوې فايده نه لري

محنت په کار دی د محنت رزق برکت لري ډېر
که سوال ، حرام ، کوي او پور کوې فايده نه لري

د کور بنياد چې کله ږدې د هر څه خيال يې ساته
بيا که تاوان وروسته پرې نور کوې فايده نه لري

# مازيګرى

د ګل ښايست چې خپل رنګونه د سپرلي نه اخلي
مازيګري رنګ د ګودر او د منګي نه اخلي

که څومره ښکلي وي غريب چې شي بد رنګ ښکاريږي
غريبي ورکه کړي ښايست هم د سړي نه اخلي

د نصيب کرښې په کې ګوري خو موندی يې نه شي
د تقدير نخښې به په خپله خپل تندي نه اخلي

داسې وخت راغی چې ميږي هم فيل په بده وهي
ګيدړ را پاڅيد قسمونه د زمري نه اخلي

سم سړي خور دی د انسان په غوښو نه مړيږي
يوه يوه توکړه د غوښو د زړګي نه اخلي

**بيداره** کله به يې ژوند کې خوشالي را نه شي
د کور په کار کې چې صلاح څوک له پردي نه اخلي

# د امن تږي

تږی ووم اسمان ته مې خوله ونیوه
ثاڅکو د باران ته مې خوله ونیوه

امن مې غوښته په چغو چغو کې
غږ مې کړ جهان ته مې خوله ونیوه

نه مې اوري غږ مرۍ مې وچه شوه
هاغه لوی کاروان ته مې خوله ونیوه

لاس مې ورجوړه کړل څه تري غواړمه
خېر راکه جانان ته مې خوله ونیوه

تیر شوم خو دعا مې ورته وکړله
دغه ګورستان ته مې خوله ونیوه

کور کې مې ژړا راتېنګوې نه شوه
ووتم دالان ته مې خوله ونیوه

سترې اسویلې مې خولې له راغله خو
اف مې کړه ګریوان ته مې خوله ونیوه

بس نصیبه ویښ شه او **بیدار** شه نور
ستا دلاسه ځان ته مې خوله ونیوه

## خبر

نه شته د خوښۍ او د خندا خبر
هره ورځ به اوري ناآشنا خبر
دروغ به تمام کلي وران کړي وي
څو چې رارسیږي د رښتیا خبر

# په دې وطن کې

په سرو وينو لمبېږي ښه ځوانان په دې وطن کې
دجنګ په اور کې سوځي افغانان په دې وطن کې

ښايسته افغانستان وو د وياړونو حماسه وه
اوس راغی پرې د هر لوري خزان په دې وطن کې

چا لوټ کړو ،چا تالا، کړو، قاتلان قهرمانان شول
دې ځينو پکې خرڅ کړلو ايمان په دې وطن کې

نفاق او تربګنۍ چې وي تر څو زموږ په مېنځ کې
تر هغې به ولس وي پرېشان په دې وطن کې

تر څو چې جنګسالار او ټوپکمار پکې اوسېږي
همداسې به شروع وي چور تالان په دې وطن کې

**بېداره** چې تر څو په علم پوهه سمبال نه شي
نو تل به وي ستومانه هر انسان په دې وطن کې

# جانان

څه وکړم خوبونو کې راځي جانان
څنګه به وي چیرته څنګ به وي جانان

بیا راباندې هیټکې لګیدلي دي
فکر کوم بیا مې یادوي جانان

ګوتي شماري ځان سره خبرې کړي
ټول عاشقان کړله لیوني جانان

بیا یې ښه خواري نن په ځان کړي ده
ځان سینګاروي چرته به ځي جانان

هرڅوک چې جانان ،جانان جانان کوي
خدای خبر چې تریخ که خوږ به وي جانان

زه **بیدار** تري پوزي له راغلی یم
نه مې پریږدي ډېر مې تنګوي جانان

# شلیدلی تار

له ډېره درده مې په زړه باندې پولې جوړې شي
شوندو له راشي ترې وړې وړې سلګۍ جوړې شي

وړه خبره باندې يوبل له مرۍ ونيسي
وړې خبرې نه به غټې دشمنۍ جوړې شي

عجيبه وخت شو خلک جنس بدلوي ځان بدل کړي
د ښو ځوانانو نه ښې مستې جنکۍ جوړې شي

د وطن حال د ليوني لکه شليدلي ګريوان
ګمان مې نه شي که ګريوان يا يې تنۍ جوړې شي

دا وړې کله شړې کېږي ماشوره ورانه ده
شليدلي تار نه به څه شال او څه شړې جوړي شي

که دي خپل راز د زړګي ورکه چې لږ ويې ساته
کلي کې ګرځه ستا د راز نه به بملې جوړي شي

**بېداره** سر په کې په کار دي چې شمله په سر کړي
د کار سړي ته به د سر د پرې پګړې جوړي شي

## قطعه

سپرليه راشه خوشبويي مې په بدن خوره که
ځولې د ګلو مې د امن په وطن خوره که
چې د سرو وينو په ځای رنګ د سرو ګلونو راوړي
شنه لوپټه دې بيا په دې سپيره چمن خوره که

# د سحر باد

د سحر باده د ژوند نوي امېدونه. راوړه
د سولي غرېسره د امن سره ګلونه راوړه

موږ دریدلي یو موږ ویر او ساندې ډېرې وکړې
نور مو په شونډو خندا ګانو ته رنګونه راوړه

درد چې د زړه له تله وځي اسویلي ترې جوړ شي
د مات وجود د زړګي درد ته ټکورونه راوړه

د جنګ خامار مو په څټ ناست دی هډو نه کوزېږي
څوک چې جنګ غواړي هم هغوي لره مرګونه راوړه

چې مينه مينه شي هر خواه نفرت ترې کډه بار کړي
داسې په دې خاوره خواره محبتونه راوړه

د ژوند رنګونه چې تازه شي او ګلاب ګلاب شي
خوږو نغمو سره سپرلي راوړه سازونه راوړه

بيخي مې خوب سترګو کې نه شته ټوله شپه **بېدار** يم
لږ مو په ژوند کې سکون راوله خوبونه راوړه

## څوک به وي ؟

څوک به وي چې موږ غونډې به تګ په سرو لمبو وکړي
څوک به وي چې زيرى به د امن د راتلو وکړي
څوک به وي چې اوښکې د مظلوم اولس به پاکې کړي
څوک به وي چې ساز به بيا د سولې د نغمو وکړي

# زما د وطن ګل

زما د وطن ګل دې په ګلونو کې ښايسته دی
هم رنګ يې د نړۍ ټولو رنګونو کې ښايسته دی

په ګرد کې د بارودو هم ځلا کوي پړقېږي
قسم دې لکه لعل خړو ګردونو کې ښايسته دی

رواج ، دود او دستور يې په دنيا کې منل شوي
کلتور يې د جهان ټولو دودونو کې ښايسته دی

افسوس چې کاڼي بوټي يې په وينو باندې سره شول
زخمي زخمي وجود يې په سرو وينو کې ښايسته دی

زمونږ دزړګي سردی که دلر دي که د بردي
پښتون يو داسې قام دی چې قامونو کې ښايسته دی

صفت يې زه **بيدار** ځکه کوم چې په ما ګران دی
وطن مې د نړۍ ټولوملکونو کې ښايسته دی

# مورې

زما د ژوند د دعاګانو کرامت یې مورې
ته وسیله مې د ژوندون زما طاقت یې مورې

په ما چې لږه سخته راشي زه هم تا یادوم
ستا په دعا زما د هرمشکل راحت یې مورې

د دنیا ټولې هستۍ زار ستا قدمونو نه شه
ستا د پښو خاورې ښکلوم زما جنت یې مورې

تا د بچو د هر ارمان له پاره ځان قربان کړه
د هر اولاد د سوکالۍ یو لوي رحمت یې مورې

په شوګیرو کې ټوله شپه په دعاګانو سر یې
ته مو ژوندون ، ته مو اسره ته مو برکت یې مورې

**بیدار** په دواړو لاسو مور ته سلامونه کوي
د کائناتو د خلقت یو لوی عظمت یې مورې

# د خپل پلار ارواښاد ډاکټر کبير ستوري په ياد

هيڅ په دې نۀ پوهېږم
نۀ مې هيرېږي کله
لکه پرانستی کتاب
زما په مخ کې پروت دی
هر وخت مې خيال کې ګرځي
خوب ته مې کله پرېږدي
چې وو د ژوند ملګری
مينه ئې ډېره خوښه
د انسانيت خواخوږې
په پښتونوالي مئين
چې يو هدف ئې لره
پښتو ئې مور ګڼله
په يو خبره ولاړ
لکه د غر غوندې ؤ
ژوند د پښتو ئې خوښ وو
پښتونولي ئې خوښه
پښتو ليلا وه دده
دا د پښتو مجنون وو

په بې مقصده ژوندون
ئې اعتبار نه درلود
د ترقۍ غوښتونکی
د خپل وطن په ارمان
هر نصيحت ئې ماته
د تاريخ باب ښکاريده
زۀ به کوم کوم يادوم
کوم کوم صفت ئې وکړم
مسافرو وخوړو
د وطن ننګ وخوړو
د پښتنو غمونو
په هر يو رنګ وخوړو
چې به اصلي پښتون ؤ
خپل ځان او تن ئې ګڼو
ؤ د هر چا خواخوږی
په انسانيت ؤ مئين
د هر صفت څښتن ؤ
د لوی عزت څښتن ؤ
نوم ئې همېش ژوندی دی
هغه هېڅکله نه مري
هغه اسمان ته ختی

د خپلو ستورو سره
خوږې خبرې کوي
دا مې وو پلار ملګرو
چې شوله موږ نه جدا
لاړو اسمان ته وخوت
شو مو له سترګو پناه
دا ارماني دنيا ده
مرګ د هر چا ملګرى
څوک نيمه خوا پاتې شي
څوک ارمانونه يوسي
د خپله ځان سره
دلۍ غمونه يوسي
زما هم پلار ياد يږي
راته بار بار ياد يږي
په ژړا سر شمه زه
سر په زنګون کړم ښکته
بيا مې هم نۀ هېرېږي
پلاره ستا ښکلى بشر
الله دې تا وبخښي
ستا نوم به تل ژوندى وي

# د غوښو سوداګر

يو وه چينه وه داوبو د غره ترغاړې
دوه کوترې يې په خوا کې وې ولاړې
يو د بل خولې کې اوبه راڅڅولې
کله کله به ورکړې سرې منګولې
زه ولاړ وم تماشه يې ما کوله
کله وبه کړو غورغور او کله غلې
خنې وخت به يې مښوکې سره ورکړې
په غورغور به يې يو بل ته څه ويلې
خيال يې نه ؤ څوک زموږ په لور کاته کا
ما دليرې نه د دوې په لور کتلې
زه سوچ وړې ووم د تيګي په سر ناست
دوې په مينه ديو بل نه تاويدلې
په دې وخت کې يو صياد د کومې راغې
ډز يې وکړو دواړه غبرګې وويشتلې
لږ ساعت کې يې د مينې جوړ کور وران شو
د چينې په غاړه دواړه پړقيدلې

بیا یې دواړه په تیره تیغ کړي حلالې
ما پرې غږ کړو، دادي ولې ووژلې
دي ویل زه یمه ښکاري دغه مې کار دې
زه دغوښو سودا ګر یم چپ شه مړې
ماچې ولیده دا حال فکر کې لاړم
که ټوپک نه وې نو دا به چا وژلې
دټوپک ګولۍ لحاظ کله دچا کړي
بس خو زه به پرې تا ولم ته مې ولې
په همدې کې مونږه ځان سره تباه کړ
په دې نه یو چې دا څه کوو او ولې
په جنګونو کې را لوی شو بوډا ګان شو
مونږ د امن مزه هیڅ نه ده څکلې
وخت روان دی په تېزۍ سره تیرېږي
مونږ ترې وروسته پاتې کېږو مونږ بایللي

# د پښتون د کور ماتم

د لـــرو بـــرو پښـــتنو پـــه کـــور مـــاتم راغلـــی
بیـا د وحشـت دهشـت، افـت زمـوږ پـه چـم راغلـی

خاونـده خـلاص مـو کـړې ددې لعنـت د شـره ځنـې
زمـوږ دعمـر سـره جنـګ مـوږ سـره سـم راغلـی

هلته هم مري دلتـه هـم مـري پـه هـره خـوا پښـتون مـري
د ننګیـــالیو پـــه وطـــن جبـــر او ســـتم راغلـــی

د انســانیت د ترقــۍ دشــمنان بیــا غونــډ شــوي
د ژونـد سـکون تـالا کـوي ورسـره غـم راغلـی

د ځان پرستو جنګ پرستو عقل کار نه کوي
ليوني شوي دي په تول يې عقل کم راغلی

د وطن سمه ، غرونه وسولو د جنګ په لمبو
وسلي ګوزار کړئ وخت د پوهې او قلم راغلی

**بېدار** دا سوال دلوی الله نه په څو واري کوي
هغه دې ورک شي چې وسله ورسره بم راغلی

## قطعه

د هدف په لټون ګرځو د کاروان سره روان یو
یا به رسو تر منزله یا به پاتې په مېدان یو
که یو موتی یو اواز شو نو منزل ته رسيدی شو
که یو نه شولو ورکېږو مور به تل په وير د ځان یو

# شوګیر

ستـرګې پټـوم کوشـش کومـه خـو خـوب نـه راځـي
سـتا نـوم یـادوم زړه صـبرومه خـو خـوب نـه راځـي

ټوله شپه شوګیر کړم تر سهاره سترګې سري مې شي
پنډ د ګولـو جیـب کـې ګرځومـه خـو خوب نـه راځـي

کلـه مــې دا شــک وشــي چــې لاړي لیــوني شــولې
ګــوتي شــمېرم ډډي بدلومــه خــو خــوب نــه راځــي

زړه مــې راتــه وایــې نــور غمونــه دژونـد مــه کــوه
نـه مـې پرېـدي سوچ فکـر وهمـه خـو خـوب نـه راځـي

نیمـه شـپه را پـاڅم خپـل دژونـد تصـویر تـه ژاړمـه
لپــي لپــي اوښــکي تویومــه خــو خــوب نــه راځــي

# بې تعبيره خوب

داسې ښکارېږي لر به لر او بر به بر پاتې شي
پښتون به تل په خپله خاوره درپه در پاتې شي

يو والى نه شته هسې خوب دى سر پرې مه خوږوه
داسې خوبونه بې تعبيره خو اکثر پاتې شي

پښتانه خپله د پښتون دشمن ته لاس ورکوي
ځان کړي کمزورى خو دشمن يې زورور پاتې شي

دا کوم سلوک چې پښتنو د پښتنو سره وکړ
ګمان مې نه شي پېښور کې به مهاجر پاتې شي

هغه وختونه بيرته نه راځي لښکرې نه شته
اوس د پښتون په نوم به خنګه سر لښکر پاتې شي

چرته که مونږه خپل ځان ونه پېژندو پوهه نه شو
نور به خوشال وي خو زموږ په کور به شر پاتې شي

که وروري نه کړي خو نفرت ورځنې هم مه کوه
دا د نفرت داغونه تل بيا په ځيګر پاتې شي

# لټون

د زړه کـــور کـــې د چـــا نـــازک خیالونـــه لټـــوم
چـــې ورک دي رانـــه هغـــه تصـــویرونه لټـــوم

ګلونـــو پســـې ګرځمـــه ګلـــبڼ کـــې د ګلونـــو
د ښـــکلي یـــار د مـــخ پـــه کـــې رنګونـــه لټـــوم

چې مینه ورو ګلوي کړي او نفرت ورپکې نه وي
اشـــنا پـــه دغـــه ښـــار کـــې داســـې زړونـــه لټـــوم

چې فخر د پښتون شي پښتانه سره یوځای کړي
پګـــړۍ تـــه باچاخـــان پـــه شـــان ســـرونه لټـــوم

د نیا په جنګ اخته ده مونږه هم سوځو په اور کې
د امـــن پـــه کـــې بـــل څـــو مشـــالونه لټـــوم

دعلـم پلوشـې چـې یـې نړۍته یومثـال شـي
پـــه دې خـــاوره د داســـې ځـــوان فکرونـــه لټـــوم

خوشبو چـې یـې د امـن د سپرلي بادونـه راوړي
**بیـــدار** ورتـــه ولاړ داســـې ګلونـــه لټـــوم

# مسافر

ستا له کلي مسافر شوم نور مې ورو ورو هيروه
زه چې کله د ريا د پرېږم نو تصوير مې ښکلوه

درنه ځمه بل وطن ته نيت مې کړی راونيږم
زه دعا درته کومه ته دعا راته کوه

د وخت جبر دي جانانه چې له تا يې زه جدا کړم
زه به زړه خپل صبرومه ته هم خپل زړه صبروه

هيرول دې راته ګران دي خو زه څه وکړم مجبور يم
دا مې واخله د لاس نخښه ته پرې ځان مشغولوه

اجازت راکه چې ځمه ستا د کلي رخصتېږم
ښه پوره ديدن مې وکړه بيا مې نور مه يادوه

خپلې اوښکې دې که پاکې سترګې سرې دې په ژړا کړې
ته خو ژاړې په سلګو کې خو **بيدار** مه ژړوه

# اور ولګيد

په شين چمن شينکي باغونو باندې اور ولګيد
په دنګو دنګو چينارونو باندې اور ولګيد

د سپينو واورو شنې لوخړې د بارودو خيژي
غرونه مو څه چې په سيندونو باندې اور ولګيد

د هسکو غرونو ښکلاګانو د ښايست ګلبڼ کې
د شنو ښترو ځنګلونو باندې اور ولګيد

د چا قاتل نظر پرېوتې په دې پاکه خاوره
کلي مو سوځي په ښارونو باندې اور ولګيد

قتل ارزان ، مرګ دې ارزان د دې بازار سودا کې
سرونه غوڅ شو جسدونو باندې اور ولګيد

د دنيا خلک د تعليم په بام اسمان ته خيژي
زموږ د زده کړې مکتبونو باندې اور ولګيد

د بې علمۍ توري بلا توپک په لاس کې راکه
قلم ماتېږي کتابونو باندې اور لګید

د اختلاس ، فساد ، رشوت بازار ښه ګرم ښکاري
دخوار غریب خالي جیبونو باندې اور ولګید

تیر شوي عمر کې چې سوله آمن موږ ونه لید
د باقي عمر ارمانونو باندې اور ولګید

د بدنیتۍ فضاء خوره ده مینه ورکه ښکاري
دهوس وږي شو نېتونو باندې اور ولګید

نن په ډالرو خرڅوي دخپل بابا هډوکي
په هدیره کې په قبرونو باندې اور ولګید

د ظلم دا داستان ختمېږي نه، **بېداره** واوره
نور مو د خوب په تعبیرونو باندې اور ولګید

# تیر یادونه

هغه چینار هغه ګودر درته یاد یږي که نه
زموږ د کلي مازیګر درته یاد یږي که نه
چې به فضا وږمې وږمې غرونه شینکي نه ډک ؤ
د سیند شمال او روڼ سحر درته یاد یږي که نه
چې به ولس راجمع شوې وو د کلي په کار
هغه، غوبل ،هغه، اشر ،درته یاد یږي که نه
چې ما او تا به په کې پانې ټولولي د باغ
هغه پیوند پیوند ځادر درته یاد یږي که نه
اوس هغه هر څه کنډواله دي غرونه ټول سپیره دي
شنه ځنګلونه دنبستر درته یاد یږي که نه
ترنیمو شپو چې به سیتار منګې رباب غږیده
شپه د سپوږمۍ ورځ داختر درته یاد یږي که نه
**بیداره** تیري قیصې تیر یادونه پرېږده بس که
اوس هغه خپل کلي ،تنر، درته یاد یږي که نه

★★★

چې مين شي سړي ووايه چې څه خوري ؟
بس په مينه کې به ټول عمر خپل " زړه "خوري

د خيټو سړي به څه صبر او زغم وي
چې شي وږې نو دوه دري په " تناره "خوري

اوس د ښو بدو توپير پکې ورکېږي
خر د آس سره په يو " اخور " واښه خوري

چې په خوله يې اعتبار کله ونه کړي
قسمونه چې په هر کار کې "پاخه "خوري

دا شور څه دي ؟ دا چې بيا خلک راټول شول
دغه" شور" به زما ټول عمر ماغزه خوري

چې " **بيدار** " په مېلمستيا کلي ته درشي
بل څه نه خوري د سوکړک سره سابه خوري

# غربت

داچې شليدلي جامې ګرځي د غربت د لاسه
دوي خو به هم د ښکلي ژوند ارمان په زړه کې لري

هسې په خوله وايي مين نه يم ، ساده سړى يم
هر يو انسان مينه کوي جانان په زړه کې لري

چې په جار وايي زه زاهد يم د شيخۍ دعوه کړي
ښکاره زاهد ، په پټه لوى شيطان په زړه کې لري

څوک چې د ژوندلپاره ژوندغواړي او ژوند خوښوي
هغه د ژوند خوارۀ د ټول جهان په زړه کې لري

هغه به کله هم قاتل ، رهزن، ډاکو جوړ نه شي
چې وي ریښتینی مسلمان ایمان په زړه کې لري

دا چې د جنګ لپاره جنګ غواړي او سوله نه کړي
دا جنګ پرسته دي پردی وجدان په زړه کې لري

ټول پښتانه چې لر او بر د اسې په چغو سر دي
هر یو پښتون د غم او درد داستان په زړه کې لري

## قصاب خانه

عجیبه قصاب خانه ده دانسان غوښې خرڅېږي
نور د هر څه قیمتي ده بس د وینو ارزاني ده
تا هم وژني ما هم وژني ، هغه وژني دا هم وژني
زه **بیدار** ورته حیران یم چې داڅنګ مسلماني ده

# محبت

ځـــئ چـــې محبـــت وكـــړو
جنـــګ ځنـــې نفـــرت وكـــړو

تـــا چـــې وژنـــم ځـــان وژنـــم
لـــږ بـــه قضـــاوت وكـــړو

جنـګ بـه مـو برباد کړي ټول
کـــار د شـــهامت وكـــړو

نـه کېـږي پـه جنـګ کلـي
سـوله خپـل عـادت وكـړو

يـو وجـود يـو، يـوه ، وينـه
لاس ورکـــړو وحـــدت وكـــړو

وروســـته بـــه بيـــا لاس مـــروړو
سـوچ بـه پـه خپـل وخـت وكـړو

دا هـــم د دشـــمن دی چـــال
هـــر څـــه پـــه سياســـت وكـــړو

خېـــر بـــه دالله غـــوا ړو
ســـوال بـــه د رحمـــت وكـــړو

راشـــئ مينـــه مينـــه شـــو
دې كـــې لـــوی همـــت وكـــړو

خپلـــو كـــې يـــو مـــوټی شـــو
دغـــه شـــهامت وكـــړو

يـــو پښـــتون چـــې بـــل كنځـــي
څـــه خيـــال دعـــزت وكـــړو

څـــوک چـــې دا عمـــل كـــوي
دوي تـــه نصـــيحت وكـــړو

مياشـــت كـــې د روژي چـــې خپـــل
نفـــس پـــاک ، عبـــادت وكـــړو

داســـې كـــه ونـــه كـــړو مـــوږ
ژونـــد بـــه د ذلـــت وكـــړو

★★★

سترګو ته دې وواېه چې نه مې خوري
نيغ چې راته وګوري بانه مې خوري

دا خبرې نوري ماته مه کوه
دا چې کله واورمه ماغزه مې خوري

کله به شو خلاص له دې بلا څنې
دا بلا چې ووينم نو زړه مې خوري

يو ده غريبي بله د ژمي شپه
ټول بدن مې ريږدي او ساړه مې خوري

شوله د **بېدار** مسافري اوږده
ډېر کلونه پس دده راتله مې خوري

# مسافر جانان

په بل وطن کې مسافر جانانه کورته راځه
شه د وطن په حال خبر جانانه کورته راځه

هغه دا ستا د زړه په وینه را لوی شوي ګلان
هغه اوس مړاوي وي اکثر جانانه کورته راځه

پردي محل پردی ماڼۍ نور په بلا ووله
د خټو کور دی تري بهتر جانانه کورته راځه

ځواني دې خاورې کړه د بل په مزدوریو باندې
تر څو به یې د بل نوکر جانانه کورته راځه

هلته د سرو سپینو کمی نه شته هرڅه به ډېر وي
دلته دې پاتې د زړه سر جانانه کورته راځه

په انتظار دې مور بوډۍ شوه پلار دې ړوند په سترګو
بچي دې ټول شول درپسې در جانانه کورته راځه

مور چې هر وخت په دسترخوان کينو نو تا يادوو
ته به يې مور او که نهر جانانه کورته راځه

منم چې تاسره دې غم زمونږ د ژوند او خيتې
خدای به هر څه کړي برابر جانانه کورته راځه

هر ځای کې اور دې زمونږ تاسره همېش سودا وي
**بيداره** مه کوه سفر جانانه کورته راځه

زۀ د داسې غم په زغم هيڅ نه پوهيږم
غير له اوښکو نه بل څۀ راسره نشته

# قیصه

تا به قیصه کوله ما به بدلوله قیصه
هغه قیصه څه وه چې هیڅ نه ختمېدله قیصه

په توبو سر وو څه یې نه ویل غوږونه یې نیول
ماتري تپوس وکه ویل اوس شوله بدله قیصه

سلګو نیولي وو د درد حال یې په سترګو کې وو
ما هم سلګو کې ده نه اوریدله قیصه

دچا قیصه وه سر یې نه وو هډو نه ختمېده
موږ تر سبا پورې بس دا قیصه ژړله قیصه

پخوا به نیا راته قیصې د بلاګانو کړلي
اوس مونږه اورو بلاګانو نه پخپله قیصه

تا قیصه وکړه سر تر پایه دي په ما واوریده
اوس راته غوږ شه چې شروع کړم درته خپله قیصه

**بېدار** قیصو قیصو کې داسې قیصې واوریدلي
ورته ژړل یې د هر چا چې اوریدله قیصه

## قطعه

په دې وطن کې د قیصو هېڅ کمی نه ښکارېږي
هره دره ئې د غمونو له قیصو ډکه ده
په دغه لاره چې قدم اخلي په خیال ئې اخله
لاره که لنډه ده خو ټوله د اغزو ډکه ده

# جنګونه مه کوئ

خدایګو په کې ډېر زیات دې تاوان جنګونه مه کوئ
ژوند له ژونده مه اخلئ دانسان جنګونه مه کوئ

جنګ خو تباهي ده ، بربادي ده هم نیستي د ژوند
ژوند دخدای تحفه ده داسمان جنګونه مه کوئ

وسو په کې کلي، هم ښارونه په لمبو داور
قتل شو بې شمېره انسانان جنګونه مه کوئ

وګورئ په خپل ګریوان کې سوچ وکړئ چې څه کوي
ژاړي په سلګو کې ماشومان جنګونه مه کوئ

دغه ښکلي کور ، ګلشن وطن مو چې تباه کړلو
ټول د چا په لمسه د شیطان جنګونه مه کوئ

خوند دزنده ګی، چې به وو ژوند به وو مستي به وه
اوس راغې پرې سم سپیره خزان جنګونه مه کوئ

ژوند راکړې خدای دې مګر ته زما قاتل د ژوند
مه وژنی، خپل ځان او نور جهان جنګونه مه کوئ

ورک شه جنګه ورک شه نور زمور د کلي چم نه ځه
واوری، د **بصیر بېدار** بیان جنګونه مه کوئ

# تکبر

هر څه باندې پوه خو پوهیږي نه
خدای مني خو خدای ځنې یریږي نه
ډېر زیات تکبر نه بره الوځي
ګرځي په هوا رانسکته کیږي نه

# زخمي زړهٔ

ددې زخمـي زړه د دردونـو قيصـه چـا تـه وکـړم
سـتا د يـادونو دلوظونـو قيصـه چـا تـه وکـړم

پـه مـات زړګـي مـې ډير غمونـه بې پنـاه پراتـه دي
ددې بـې تولـه کړاوونـو قيصـه چـا تـه وکـړم

ډيـره مـوده وشـوه خوښـي لـه مانـه ليـري تښـتي
دژونـد دډيـرو طوفـانونو قيصـه چـا تـه وکـړم

اوس هغـه رنـګ هغـه مـزه د زنـده ګـۍ نشـته دې
پـه وچـو شـونډو دپـاړونو قيصـه چـا تـه وکـړم

د ظلـم زور يـې نـه کمېـږي لا زيـاتېږي پسـې
د وران وطـن د اميـدونو قيصـه چـا تـه وکـړم

**بېداره** ژوند دي تېول پـه غـم، فکر، سوداکې تير شو
نـور د تيـر عمـر د رازونـو قيصـه چـا تـه کـړم

# د سترګو هنداره

ستا په ښکلو سترګو کې چې ځان ګورم
ګـورم ورتــه ځکــه چــې جانــان ګــورم

ســـتا خــوارۀ کتــل ډک دحيــا ســـره
زه پکــې ارمانــه خپــل ارمــان ګــورم

ګـوره راتــه ګـوره چې بـې خـوده شـم
بـــس د ليوتتــوب دغــه جهــان ګــورم

تــه چــې بدرګــه ورســه پــه لاره ځــي
ګــرځم ورپســې هغــه کــاروان ګــورم

پـوي چې پـه دسـتور د محبـت وي څـوک
زه **بصـــير بيـــدار** هغــه انســان ګــورم

# د محبت لمن

ما چې اوس د مینې محبت لمنه ونیوه
ځکه مې د یار د کور مالت لمنه ونیوه

زه یې د راتلو په انتظار کې لارې څارمه
سترې انتظار مې د عادت لمنه ونیوه

مینه لیونۍ ده محبت د لیونو روزګار
ما دې لیونتوب کې د قسمت لمنه ونیوه

زه د پښتنې مینې انځور د ننګ په ویاړ کوم
نو ځکه مې د پت، پښتو غیرت لمنه ونیوه

مات به شي ځنځیر د جدا والي اخر یو به شو
وینښ شومه **بیدار** ما د وحدت لمنه ونیوه

# د منزل لټون

زړه خو مې غواړي چې يو ښکلي شان غزل ولیکم
په قافیه ردیف او وزن یې بدل ولیکم

ستا تصویرونو کې د کوم یو انتخاب وکړمه
چې مې د مینې داستان ټول پرې مکمل ولیکم

په سپیره دشته کې روان یم د منزل په لټون
څومره اوږد یې او لا نور څومره مزل ولیکم

څومر اوږده دا مسله شوه حل یې نه راوځي
لار راته ښایه چې د دې مسلې حل ولیکم

کرښې به وې خو ما او تا څوک بیلولي نه شي
دغه ناره به پیښور او په کابل ولیکم

**بېداره** دا مې اراده کړې چې ستا نامه به
د ژوند کتاب کې په یو نه په څو ځل ولیکم

# د زړهٔ ټکور

په کتو، کتو ، کتو کې رانه ورک شوې
سم د سترګو په لېمو کې رانه ورک شوې

زما سترګو به ځارلي دا ستا لارې
خو د کلي په کوڅو کې رانه ورک شوې

لکه پړق د لمر په وریځو کې ښکاره شوي
په شیبو ، شیبو ، شیبو کې رانه ورک شوې

چې په قدر دي زه پوه نه شوم جانانه
ښکلي لعل وي په ایرو کې رانه ورک شوې

لټولي مې په سپینه رڼا ورځ کې
ښاپیرک غوندې په شپو کې رانه ورک شوې

د **بېدار** د زړه ټکوره بیرته راشه
د هجران تورو تیارو کې رانه ورک شوې

# ړوند بخت

یا وخت راباندې ړوند شو یا دنیا سترګې ړندې کړې
یا بخت زما خراب شو یا اشنا سترګې ړندې کړې

امسا مې ټکوله د منزل په لور روان ووم
دا لار کنده وکپرو ده که امسا سترګې ړندې کړې

تا نه ويني چې تل د مرګ او ژوند په برید ولاړ یې
پښتونه ستا په حال باندې هر چا سترګې ړندې کړې

تل ګورې دروازې ته د زوې لار څاری په سترګو
هغې خوارې بوډۍ ته خو ژړا سترګې ړندې کړې

هر ځای میدان د جنګ شو امن لیري رانه تښتي
لوګو کې د بارودو مو هوا سترګې ړندې کړې

د ظلم انتها چې یې اسمان ته لاړه وکړه
سپوږمۍ تندر نیولي ده فضا سترګې ړندې کړې

انصاف به په کې نه وي او تیري به په کې زور وي
د خپل ولس په حق چې هر باچا سترګې ړندې کړې

**بېداره** تول یې وینې خو څه نه وایې ګونګي شي
د ډېرې بې حسۍ نه یې بینا سترګې ړندې کړې

---

سترګې چې په سترګو کې د سترګو نه څه وغواړي
نور به چا نه څهٔ ؟ زړهٔ به د رکړي زړهٔ غواړي
کله خپل هدف ته څوک په خوب کې رسیدلي دي
خوب نه به ویښېږي که منزل ته رسیدهٔ غواړي

# توره شپه

يار مې وو خو يار مې په خوا نه رائې
ليرې رانه تللي اشنا نه رائې

ډيره موده وشوه چې جدا يو مونږ
اوس يې هم سلام په هوا نه رائې

داسې په ژړا ژړا کې پوخ شومه
نور راته هيڅ چل د خندا نه رائې

وخت سره ملګري ځه او خيال کوه
وخت که درنه لاړه په شا نه رائې

چا ویل د تیارو پسې رڼا راځي؟
لا خو توره شپه ده سبا نه راځي

زه د وخت په ژړندو کې دل شوی یم
نور د سختو تنګو پروا نه راځي

ومنه **بیداره**! چې ځواني لاړه
اوس هغه ځواني بیرته بیا نه راځي

## ګناه

خدایه کومه ګناه کړې پښتنو ده
چې زوال ئې په نصیب د پرګنو ده
د دهشت وحشت په نوم باندې تباه شول
له دې سره ئې کړې خلاص دا مې ارزو ده

# مهرباني مورې

لـه تانـه ليـري مسـافر يـم پـه مـاګـرانې مـورې
اې مهربـــانې مـــورې
بـې لـه تـا ژونـد مـې نـه تيريـږي قـدردانې مـورې
اې مهربـــانې مـــورې

ســـتا پـــه للـــو او الاهـــو کـــې
ښايســـته خـــوږو خـــوږو قيصـــو کـــې
مـــا بـــه خـــوب وکـــړو پـــه زانګـــو کـــې
پـه سـختو تنګـو دې رالـوی کـړم قهرمـانې مـورې
اې مهربـــانې مـــورې

تـــا ډيـــر غمونـــه دي ليـــدلي
هـــر څـــه پـــه زړه دې تيـــر کـــړي
تـــل دې پـــه ســـرو ســـترګو ژړلـــي
نـور راحتونـه دې نصـيب شـه سـرګردانې مـورې
اې مهربـــانې مـــورې

زمـــا ژونـــدون يـــې زمـــا ســـاه يـــې
مـــورې زمـــا د زړه درزا يـــې
افســـوس پـــه دې رانـــه جـــدا يـــې
لـه پښـتني احسـاس دي زار شـمه افغـانې مـورې
اې مهربـــانې مـــورې

ســـتا زحمتونـــو نـــه قربـــان شـــم
ســـتا فريـــادونو تـــه حيـــران شـــم
چـــې تـــه خفـــه يـــې پرېشـــان شـــم
**بيـدار** بـه تـل فخـر كـوي سـتا د ميړانـې مـورې
اې مهربـــانې مـــورې

## مور

مـــور يـــو داســـې لـــوى نعمـــت دى
مـــور پـــه دې دنيـــا جنـــت دى
د مـــور مينـــه ريښـــتياني وي
نـــورې مينـــې بـــس عـــادت دى

# اروا ښاد ملنګ جان

د پښــــتو د بــــڼ مالیـــار وو ملنـــګ جـــان
د بهســـودو دننګرهـــاروو ملنـــګ جـــان

پـــه پښـــتو او پښـــتونواله ډېــــر مـــین وو
د پښـــتو د ګلـــو هـــار وو ملنـــګ جـــان

شـــاعري یـــې دپښـــتون دکـــور ښـــکلا ده
د چـــاربیتي ، غـــزل یاروو ملنـــګ جـــان

نابغـــه وو د خپـــل شـــعر پـــه ائینـــه کـــې
عجیبـــه شـــان تخلیـــق کـــار وو ملنـــګ جـــان

ازادي د پښـــتنو یـــې لـــوړ مـــرام وو
پـــه پښـــتو لـــه ســـره زار وو ملنـــګ جـــان

په پښتو باندې له سر او مال نه تیر وو
د پښتون د سر دستار وو ملنګ جان

ما **بیدار** باندې چې څومره ملنګ ګران دي
داسې خوښ زما د پلار وو ملنګ جان

## درد

راته ویل غوږ را نږدې که څه خبره کوم
د ژوند ورستۍ شیبې یې تولې په سلګو تیرې کړې

سترګې یې پټې کړي په مخ یې اوښکو لارې وکړي
خپلې خبرې یې په سترو اسویلو تیرې کړې

دا نظم ما څو کاله مخکې خپل زوي سمون ته ليکلې دې چې اوس ۱۲ کلن دې خوخبرې نه شي کولي او د اتيزم Autism د ناروغۍ ښکار دې اولاد ډېر خوږ وي نوما هم خپل درد په دغه نظم کې رانغښتي دې چې له تاسو سره ئې شريکوم هيله ده چې په دعا کې ياد وساتئ.

## سمون ته دعا

نن مې زړه بيارا ډک شو
چې تا ته وګورمه
په چغو وژاړمه
زما خايسته سمونه
زړګې زما خوږېږي
ذهن مې ټول ګډ وډ شي
خو زه بې وسه يمه
ستا علاج نه شم کوې
هر يو اندام دې جوړ دې
ژبه دې نه خوزېږي
ذهن دې کار نه کوي

لوبي دې نه خوښېږي
د خپل تکليف وېلو
دركې توان نه شته
زه هم پرې نه پوهېږم
چې ستا په كوم ځاى درد دې
كله مې زړه را ډک شي
چې د همزولو سره
لوبي ته ولې نه كړي
په كوركې منډې وهې
ځان دې كه سترې ستومان
نه ئې له لوږې خبر
نه ئې له تندې خبر
خو چې تكليف راشي په تا
په ژړا چغو سرشي
ستا د ژړا انګازې
ستا موراوپلاررزوروي
خو وس ئې نه رسېږي
هر څه په زړه تېروي
ستاماشوموالى زما
لکه دا نن يادېږي
تابه خندلي راته

تابه نڅا کوله
په مینه مینه به ته
رالویدلې راته
ما هم ارمان لرلو
چې ته به کله ګرځې
خبرې کله کوې
ښوونځي ته کله به ځې
دا به د خدای رضاوه
ارمان پوره مې نه شو
ژوند ناقرارشو زما
زماخایسته سمونه
اوس د الله دربارکې
دغه یوسوال کومه
چې رب دې جوړکه راته
په خپل حکمت اوکرم
زموږ په وس کې نه دي
ستا جوړیدل سمونه
خو دالله په درکې
کمی د هیڅ شي نه شته
که په تاورحمیږي
ژبه دې وچلیږي

يو ځووړې خبرې
په خپله ژبه وکړې
شکرګذاربه دخداى
په ځوځو واره شمه
زماخايسته سمونه
الله دې روغ که راته

## اسويلى

درد چې د شونډو سرته راشي اسويلى ترې جوړ شي
غم چې سينې نه رابهر شي شين لوګى ترې جوړ شي
زمـــا د درد قيصـــو زمـــا ذهـــن تـــالاوالاکـــړه
ځوک چې زما غوندې غمجن وي لېونى ترې جوړ شي

# يادونه پخواني

په زړه مې راوريږي تير وختونه پخواني
ستا ډير زيات مې ساتلي تصويرونه پخواني

چې کله را په ياد شي ستا تصوير لاس کې راواخلم
لټوم په کې جانانه ډير يادونه پخواني

حجري به وې ديرې به وې مشران کشران به ناست وو
منګي به وو ، سيتار وو، او ربابونه پخواني

هر چا به کوه فخر په رواج ، دوود او دستور
اوس لاړه مونږه پريښوده دوودونه پخواني

ولس به وو د کلي په کار بوخت په (لو ، غوبل) کې
اوس ما ونه ليده چرته ( اشرونه) پخواني

قيصه درنه اوريږي پخواني يادونه پريږده
**بېداره** اوس کوه تش تعريفونه پخواني

# د وخت لوبه

اې وختــه ډېــر بــې وختــه دې اختــه پــه ويــر دځــان کــړم
قيصــه دژونــد شــروع کــړم کــه شــروع دغــم داســتان کــړم

ماشــوم وومــه ,هلــک شــومه ,ځلمــی شــومه ,ســړی شــوم
د ژونــد پــه مــزه پــوه, نــه شــوم چــې ګتــه, کــه تــاوان کــړم

د بـــر ,دی کـــه د لـــر ,خـــو پښـــتون دی ,خـــوار و زار
دجنــګ پــه اور کــې ســوځي پرېشــانه هــر افغــان کــړم

پــه لمســـه داغيـــارو مـــو کـــړو خپـــل وطـــن بـــر بـــاد
مــوږ هــيڅ اســره و نــه کــړه کــوم عمــل درتــه بيــان کــړم

يــو جنــګ دپاســه جنــګ دې او بــل جنــګ پــه کــې تــود ېږي
فقــط جنــګ تــه پيــدا دې غــم د ټــول افغانســتان کــړم

حکومــت زمــوږ دوه ســرې دې پــه څــه بــه آمــن راشــي
راځــې چــور دې تــالان دې تاســو هــم بــه وزيــران کــړم

والـي کـه نـه شـوي ګـوره ولسـوال بـه خامخـا شـي
کـه داسـې هـم ونـه شـوه بیـا بـه تـا لـوی قومنـدان کـړم

ملت دې پـه کـې خـوار وي دا حکومـت زمـوږ میـراث دی
کانـدیـد بـه بیـا جرګـي دولسـي شـورا تـه ځـان کـړم

چې ښې پیسې مې وګټلې او جوړې مې پلازې کړې
بیا خلک دي توبې کړي زه به ځان خپل په کې خان کړم

## نوی نسل

د ټوپـک پـه ځـای قلـم پـه لاس کـې واخلـه
اې د نـوي نسـل ځوانـه چـې انسـان شـې
علـم ، پوهـه او هنـر ورسـره زده کـړه
حقیقـت کـې بـه بیـا سـتوری د اسـمان شـې

# خبرې

خـوږې وي کـه ترخـې وي د اشـنا د خـولې خبـرې
قسـم دې پـه مـا ښـې لګـي دا سـتا د خـولې خبـرې

دا ته چې نن پـه کومـه خولـه لګیـا وې دا سـتا نـه وه
چـې چـا وې لمسـولې ، وې د چـا د خـولې خبـرې

نـن بیـا چـا غصـه کـړی وو پـه ګـډو وډو سـر وو
پـه مخـه یـې ختلـي وارخطـا د خـولې خبـرې

چې ټولـه ورځ قیصـې درتـه د مینـې محبـت کـړي
ډېـر خونـد کـوي ملګـرو د لـیلا د خـولې خبـرې

د چا خولې تـه برغـولي جوړول بـه درتـه ګران شي
لګیـا دي ډېـرې خـولې دي د دنیـا د خـولې خبـرې

**بېـداره** دې خبـرو خـو قیامـت هـم را نـژدې کـه
پـرون چـا راتـه وکـړې د مُـلا د خـولې خبـرې

# وسوسه

واورې وربېږي زړه مې درزېږي
الله دې خېر کړي لارې بندېږي

بنګله وال ښه دي بې غم ويده دي
غريب ويښ ناست وي کور يې څڅېږي

ورځم ديدن ته ځم د يار چم ته
وصال چې نه وي وخت نه تيرېږي

اشنا بوډا شو چې د امسا شو
قدم په خيال ږدي لاس يې رپېږي

چې د شپېتو شي نو د ويشتو شي
د خولې ګوزار يې په ځای لګېږي

امن کـه ګران دی زمـوږ ارمـان دی
جنـګ لا روان دی کلـه ختمېـږي؟

هـره خـوا شـور دی بـل شـوی اور دی
وطـن سـوزېږي وینـې تـوېږي

په سمه لار شئ، ویښ شئ **بېدار** شئ
قیامـت نـژدې دې دنیـا ورانېـږي

## قطعه

زړۀ مې شي راځک خو تسلي وکړه صبر شي
کلـه کلـه ژاړي ، ژړلـو نـه یـې نـۀ یریـږم
ومنـه **بېداره** ، دا بـه هـم چـا ویرولـې وي
ځاځ بـه ورکـوم خـو ویرولـو نـه یـې نـه یرېـږم

# مايوسي

تــل د مايوســـۍ خبــرې مـــه كـــوه
دا د ناكـــامۍ خبـــرې مـــه كـــوه

هـر كـار كې د خـداى شكر ګوزار اوسـه
نــور دبــي وســۍ خبــرې مــه كــوه

خپل ژوند به خراب كړي كه ته پوه نه شوي
چــا ســره دســيالۍ خبــرې مــه كــوه

ژونـد كـې تـل لـه نورو نـه ځان ټيټ بولـه
جګـــي د مســـتۍ خبـــرې مـــه كـــوه

لـږ خـو هـم اخـلاص سـاته پـه زړه كـې دي
تـــل دا د تګـــۍ خبـــرې مـــه كـــوه

نــور **بېداره** خـداى بانـدې توكـل كـوه
بيـــا دپښـــېمانۍ خبـــرې مـــه كـــوه

# پښتو ساز

ډېره ده مزه پښتو سازونو کې
ټنګ چې د رباب له تاره اوباسي

ښومره پخوانۍ موسيقي ښکلې وه
اوس خو کمپيوټر بې شماره اوباسي

ټنګ ټکور کې خوند هله پيدا شي نور
شرنګ چې د منګي سيتاره اوباسي

دا غربي سازونه، کله ښه لګي
هسې بس سرې له کاره اوباسي

مه وايه **بېداره** رېښتيا مه وايه
تا به په کې هم د ښاره اوباسي

# اقرار او اظهار

زړه رانه څه غواړي خو اظهار کولې نه شي
مینې نه منکر شي خو انکار کولې نه شي

پټ به ځان سره تمیز د ښو او بدو وکړي
خو کله حق خبره ځوک په جار کولې نه شي

په لاڅو به دنیا ټوله په سر باندې راواخلي
چې وخت د عمل راشي هغه کار کولې نه شي

مېوه د هر یو بوټي خپله ونه کې پخېږي
بیکانې نه ځوک طمع د انار کولې نه شي

زما د لاسو نخښې یې په زړه پورې نیولې
خو نه پوهېږم خوله باندې اقرار کولې نه شي

تلوار مې دې چې راشي سوله امن په وطن کې
نور صبر په دې لاره کې **بېدار** کولې نه شي

# د نفرت اور

څــوک چــې د نفــرت اور بلــوي خپلــه
ځــان بــه دغــه اور کــې ســوځوي خپلــه

ســم دشــمن د مینــې او یــووالي شــي
دوه ورونــه پــه مېــنځ کــې بیلــوي خپلــه

تــل یــې پــه اوږو شــیطان ســور کــړي وي
یــو پښــتون بــه بــل ســره جنګــوي خپلــه

طمــع د دوســتۍ کلــه ونــه کــړي تــرې
دوست نـه هـم دشـمن دوي جـوړوي خپلـه

هــر وخــت د پښــتون بــدنامول غــواړي
ځــان بــه شــرموي بــل شــرموي خپلــه

عقــل او شــعور يــې ســر نــه وتښــتي
خپــل حيثــت پــه خپلــه کمــوي خپلــه

دا دشــمن دمينــي ، د نفــرت زيــږون
وخــت پــه تربګنــۍ بــه تيــروي خپلــه

خدايــه پوهــه ورکــړي داســې خلکوتــه
څــوک چــې دليلونــه مــاتوي خپلــه

بــس **بيــداره** چاتــه دا خبــرې کــړي
څــوک چــې د ضــمير ســودا کــوي خپلــه

# لایق زاده لایق ته

وایم به چې یارمې یې دلدار مې یې
دوست مې یې ملګري د هرلار مې یې

دا دوستي ده ډېره پخوانۍ زمونږ
دا اوسنۍ نه ده دوست د پلار مې یې

زه دربانده ویاړم ته هم ویاړ کوه
هره سخته تنګه کې په کار مې یې

ډېر مې دي ملګري خو په ټولو کې
ته مې د سر سترګې د زړه تار مې یې

تا راته تل ډاډ د ژوند راکړې دې
ژوند مې یې سکون مې یې قرار مې یې

زه **بصیر بېدار** ستا ملګرتیا باندې
ویاړمه لایقه افتخار مې یې

# د مخ نقاب

مجهولو نه راوځه ځان مالومو کې حساب که
ځان وښايه جهان ته مخ نه ليرې دې نقاب که

تر څو به دروغ وايې په دروغو به مشغول يې
رېښتياويل شروع که ځان دې خلاص له دې عذاب که

له پوهو سره کينه چې دې پوهه يو په دوه شي
ډېر لوله کتابونه يارانه د ښه کتاب که

د صبر حوصلې او د همت ځنې کار واخله
ځان ټيټ له نورو بوله سينه لوی لکه درياب که

که غواړې چې پښتون راتلونکې نسل دې ځلند شي
پښتو د دفتر ژبه که پښتو دې ټول نصاب که

**بيداره** په رېښتيا که د پښتو سندرې وايې
پښتون ته شه ورغاړې پښتونواله انتخاب که

# د سر سودا

نه مو جومات نه مو حجره نه مو دېره خوندي ده
نه خو مو کور، نه هديره ، نه جنازه خوندي ده

ځان به ساتو خو چې دځان اختيار زموږ سره وي
نه مو مکتب نه مو روغتون نه مو کوڅه خوندي ده

هره لمحه به وير ژړا کوو د غم په خبر
نه مو سحر، نه مو غرمه ، او نه مو شپه خوندي ده

چې هره ورځ په اوږو وړو موږ دخپل روح جنازې
نه مو سرک ، نه عدالت ، نه مو تانه خوندي ده

دا کوم ظالم دې چې د جنګ اور ته لمنه وهي
نه مو جونګړه ، نه محل ، نه مو خیمه خوندي ده

تول راله وژني د کار خلک او د سر پښتانه
نه مو سر ښېږي او نه لاسونه نه سینه خوندي ده

بچیه مه وځه له کوره سیل ته لیرې مه ځه
نه مو سیل ځای او نه مو پارک نه مو میله خوندي ده

★★★

سترګې اوغړوه اوګوره ګرېوان کې
چې ښېلات کړي او که ګټه په تاوان کې
چې څه وکړې هماغه څۀ به ریبې
ښه کوه او به ئې نه وړې په هېڅ شان کې

# د ژوند قیصه

زه د رتلـم خـو مېلمنـو سـره مـې شـپه وه
ځـو ځوانـانو پښــتنو سـره مـې شـپه وه

تـر سـحره مـو د ژونـد قیصـې کـولې
د وطــن د شـــازلمو ســره مـــې شـــپه وه

یـو تـه نـه وې نـور راجمـع ټـول یـاران وو
تـه مـو یـاد کـړې کونړو سره مې شپه وه

سـتا یادونـه مـې پـه زړه راوریـدل خـو
بـس د اوښـکو اسـویلو سـره مـې شـپه وه

دغمونـو پـه قیصـو کـې شـپه سبا شـوه
د وطــن د اندېښــنو ســره مـــې شــپه وه

د **بصــیر** دژونـد دردونـه ډېـر درانـه وو
د **بېدار ستوري** قیصـو سره مې شپه وه

# د بیلتون کرښې

زما خو ځان یې مګر ته به مې دځان نه کړي
زما ارمان یې مګر ته به مې ارمان نه کړي

تصویر مې وساته اخر به ورته ډېر وژاړي
زماتصویر به بیا په خپلو اوښکو وران نه کړي

په ما دې خپله خوا سړه که چې دې زړه صبر شي
چې زه دې مړ کړم بیا به ما پسې خفګان نه کړي

که بیلتون څومره کرښې راکاږي زمونږ په منځ کې
د یو وجود وینه به بیله په هیڅ شان نه کړي

زړه مې پښتون دې ګواهي ددې خبرې کوي
که پښتانه یو شي په دې کې به تاوان نه کړي

زموږ کلتور ، ږمونږه ژبه ، قوم مذهب مو يو دې
موږ به په هيڅ صورت کې بيل دا دشمنان نه کړي

زما اوستا کور، ورانوي دخپل غرض په خاطر
وران شوي کور به بيا هماغه شان ودان نه کړي

**بېداره** ټول پښتون که يو چغه ، "يوه ناره" شي
بيابه دشمن ورته ځان ټينګ په هر ميدان نه کړي

# اوښکې

رامې شي ليمو ته څڅېدلو ته يې نۀ پرېږدم
اوښکې کړم ايسارې وريدلو ته يې نۀ پرېږدم
زخم مې د زړۀ ګوره تازه دی چې لاس ورنه وړې
وينې ترې بهيږي خو ګنډلو ته يې نۀ پرېږدم

# بې منزله مهاجر

د وخت په لار روان یم مسافر یم بې منزله
همېش کډه په سر یم مهاجر یم بې منزله

د ژوند په سترو لارو مې سفر نه تمامېږي
د شپې تیارو کې ورک شومه سحر یم بې منزله

پښتون یمه په یو شاباشي خپله وینه توي کړم
بس نر یمه ، باتور یم ، دلاور ، یم بې منزله

عجیبه شان دنیا ده چې ژوندي یمه هم مړ یم
په لوږه ،تنده نه یم در په در یم بې منزله

سحر ووزم له کوره خو تش لاس بیرته واپس شم
د کار په تلاش ګرځمه. کارګر یم بې منزله

دا ژوندله مانه تنګ دي اوکه زه له ژونده تنګ یم
**بیدار** یم که ویده یم خو اکثر یم بې منزله

# خفه

کلـــه زه او کلـــه تـــه رانـــه خفـــه يـــې
راتـــه ووايـــه پـــه څـــه رانـــه خفـــه يـــې

چـې دنيـا ټولـه خفـه شـي پـروا نـه شـته
زړه مې پړق چوي چې بس تـه رانـه خفـه يې.

مـــا د زړه لپـــاره هـــره لوبـــه وکـــړه
حـال مـې بـد شـي چـې د زړه رانـه خفـه يـې

مـا ويـل هسـې مـرور شـو چـې تـه لاړې
اوس پـرې پوهـه شـوم چې ښـه رانـه خفـه يـې

مـودې وشـوې چـې يـو بـل نـه خبـر نـه يـو
دا څـه وشـو ؟چـې بـې څـه ، رانـه خفـه يـې

څـه چـې غـاړه سـره ورکـړو خفګـان پرېـږدو
د **بيـــدار** ومنـــه ، کـــه ، رانـــه خفـــه يـــې

# د حسن جلوه

زړه تـه رانـژدې مـې کـه دخپـل حسـن جلـوه مـې کـه
اور مې که سکاره مې که او باد مې که ایره مې که

ټول لوګي لوګي مې که نظر دي په ما مات که خپل
دود دسپیلني مـې کـه او پـوه مـې کـه لمبـه مـې کـه

وګـوره دخپـل حسـن تصـویر زمـا پـه سـترګو کـې
مخـامخ راکینـه ځـان دي جـوړ کـه ائینـه مـې کـه

څـومره چې دي نـاز او ادأ زه وړم پـه خپـل سر بانـدې
تـه مـې هـم دخپـل غیګـي ربـاب خـوږه نغمـه مـې کـه

هلته مازيګر چې د ګودر غاړې ته راشي نن
بيا مې د منګي سره سندره که ټپه مې که

ما د خپل قاتل نظر په پنجو کې راونغاړه
ومې وژنه قتل مې که ښه ذره ذره مې که

تنده چې پرې ماته د **بېدار** د ډېره عمره شي
مست مې که غزل مې که شراب مې که نشه مې که

## خوږ

څوک به په تا خوږ لګي څوک به په ما خوږ لګي
دا د فطرت قانون دی چې خوږ وي بيا خوږ لګي
په سترګو سترګو چې ، خواږه درګوري
څنګ به انکار ترې وکړي ، بس خامخا خوږ لګي

# د نفرت کرښې

تصویرونو باندې ستا کرښې راکاږم
ستا یادونو باندې بیا کرښې راکاږم

انتظار دې د کلونو انتظار شو
په دېوال به خامخا کرښې را کاږم

چې د حسن په جبین خالونه شمېرم
چې غلط شم وارخطا کرښې راکاږم

په خیالونو کې دې داسې لیونی شم
چې په ځمکه په هوا کرښې راکاږم

وچو شګو نه کورونه ځانته جوړ کړم
ورانوم یې په ژړا کرښې راکاږم

د نفرت کرښو جدا کړلو" **بېداره** "
ته په ما او زه په تا کرښې راکاږم

# نفرت

نفرت سیوا شو مینه کمیږي
محبت نه شته کینه زیاتیږي

تګې برګې ده په هر یو کار کې
په چل ول ژوند دې وخت پرې تیریږي

ژوند راته ګران شو په خپل وطن کې
کړه تري اخلم کړې باریږي

پولي ورانیږي نړۍ یوکیږي
په موږ پرانیستي لاري بندیږي

احساس یې مړ دې ضمیر ویده دې
پښتون به کله را **بیداریږي**

★★★

دخپل ځان پوري خندا مې خوښه نه شوه
ستا دميني دا ادأ مې خوښه نه شوه

هم يې مړ کړي هم يې کټ د جنازي وړي
دا د ظلم انتها مې خوښه نه شوه

انسانيت په کې ذلت ته رسيدلي
د وحشت دغه دنيا مې خوښه نه شوه

چې په زړه يې تور داغونه د نفرت وي
په ظاهره دا ښکلا مې خوښه نه شوه

د وفا تمه تري نه کيږي **بيداره**
د بې لوظه يار وفا مې خوښه نه شوه

# یو افغان

یوه یې وینه یو وجود دې یو یې ځان دی
که لروبر دې خو یو افغان دی

پښتون په هیڅ شان نه بیلېږي
زړونه یې لا نور نژدي کیږي
دوي که په لروبر اوسیږي
چې نفاق اچوي د دوي مینځ کې نادان دی
که لروبر دې خو یو افغان دی

د احمد شاه بابا اولاد دی
تړون د مینې یې پولاد دی
د میرویس خان زړګی پرې ښاد دی
سیاسي شعور یې وراثت د باچاخان دی
که لروبر دې خو یو افغان دی

د ننګرهار که د خیبر دي
یاد کندهار او پېښور دي
که د کابل یا هشنغر دی
ننګ او میړانه کې هر یو یې خوشال خان دی
که لروبر دي خو یو افغان دی

پښتونولي د پښتو شان دی
دېره ، حجره یې لوړ نښان دی
کلتور یې لمر غوندې روښان دی
**بیداره** ځکه ترې دشمن تل په لړزان دی
که لروبر دي خو یو افغان دی
که لروبر دي خو یو افغان دی

# د وينو كرښې

د وينو كرښې يې په وينو باندې پاكې كړلې
دبيلتون كرښو مو په زړه جوړې تناكې كړلې

په ټوكو ټوكو كې دې خپل هدف ته ځان رساوه
تا خو له ټوكو په ريشتيا جوړې پتاكې كړلې

ستا چالاكۍ ته حق حيران ګوته په خوله ودريدم
تا چې څه وكړه هغه ټولې دې په ما كې كړلې

د زړه يې خداى خبر چې څه يې غوښتل څه يې ويل
د زړه خبرې يې سلګو او په ژړا كې كړلې

دنيا په چل فريب خوړې شي دا ريشتيا دي كه دروغ
**بېداره** دا خبرې نن چا په وښنا كې كړلې

# د وخت بدلون

وخت شو بدل ، شوه زمانه بدله
شوه ددي دور افسانه بدله

د وخت سره سره جانان بدل شو
شوله د هر چا یارانه بدله

چې په دوستۍ کې اعتماد ختم شي
بیا شي له مخي دوستانه بدله

رباب منګي حجري نه کړه وکړه
مطرب خاموش دي سازینه بدله

بدل بدل پکې خپل ځان وینمه
زه شوم بدل که آئینه بدله

**بېداره** اوس هغه ذکات نه غواړي
د جانان شوله نظرانه بدله

# ملامت خپله يُو

مونږه يې پخپله په خپل ځان کوو
هرڅه چې کوو، وروسته ارمان کوو

خلک ژوند نه خوند اخلي مزي کوي
موږ په ژوند کې ټول عمر خفګان کوو

سوچ کوو پرې وروسته چې عمل وکړو
ځکه خو په هر کار کې تاوان کوو

ښه مو په سندرو کې مشهور کړلو
ذکر په کې هر وخت د جانان کوو

خپل وطن مو وران له خپله لاسه کړ
ولې بيا ګيله د ټول جهان کوو ؟

اوس **بېداره** څوک چې هم ريښتيا وايي
هسې بې دليله پرې ګمان کوو

# منډه

په منډه راشي او په منډه رانه منډه واخلي
خوښي زمونږ له کلي تيره شي نو ځنډه واخلي

پخوا به خلکو په اشر باندې ټول کار کولو
اوس هيڅوک نه شته چې د خير په کارکې ونډه واخلي

د خوار سړي دخيراته په ورځي غوا ورکه وي
چې بله غوا اخلي هغه هم ځانله شنډه واخلي

دا يو متل دې چې شړۍ سره دي ښپي غزوه
هغه برباد شي چې دښپو نه شړۍ لنډه واخلي

پرون مې وليد يو بوډا چې يې دروند بار په شاه وو
خپل زوی يې نه ووچې د خواربوډا نه ګنډه واخلي

**بېداره** داسي به عادل قاضي په کوم ځای کې وي
چې د انصاف له پاره هر يو ګام بي ځنډه واخلي

# څۀ وکړمه

زما نه ورکه شوله لاره خدایه څه وکړمه
کړه به اخلم له دې ښاره خدایه څه وکړمه

د نفرت وریځو د خلوص اسمان په یو دم ونیو
مینه کمیږي بې اختیاره خدایه څه وکړمه

ژاړي سلګو کې چې دیو بل نه بیلیږي زړونه
یار چې بیلږي د خپل یاره خدایه څه وکړمه

د کار سړي رانه د مرګ بلا یو یو وخوړو
ستوري پریوزي له مداره خدایه څه وکړمه

اوف د بې وزلو د خولي آه ورته مانا نه لري
هیڅ نه ویریږي له ازاره خدایه څه وکړمه

زړګی مې ډک دی د کوم درد درته خبره وکړم
خوله مې ونه سپړي **بیداره** خدایه څه وکړمه

# بدلول غواړي

خپل ځان بدلول غواړي ،سوچ د قام بدلول غواړي
حالات که نه بدلیږي خو نظام بدلول غواړي

زړګی مې راته وایې له دي کلي لیري لاړ شه
دا غم د ختمیدو نه خپل پام بدلول غواړي

انځور زما د ژوند یې په پیکه رنګونو جوړ که
تصویر بدلول غواړي دا رسام بدلول غواړي

نه فکر مو بدل شو نه مو ژوند کې بدلون راغي
ماغزه مو زنګ نیولي دي تمام بدلول غواړي

دا توره شپه به کله کړه اخلي ددي ښاره
رڼا پسي ړانده شو تور ماښام بدلول غواړي

**بیداره** ستا شعرونو کې جذبه د بیدارۍ ده
ویده پښتون چې ویښ کړي دا کلام بدلول غواړي

# پښتو ژبه

ژبه مورنۍ مې ده پسته لګي
ما باندې پښتو ژبه خوږه لګي

مور پري الاهو راته ويلې ده
دې نه يې د مينې اندازه لګي

ورک شي هغه کس چې ژبه هيره کړي
دا د ورکيدو يې نښانه لګي

چا چې يې خدمت په اخلاص کړی دی
خوله کې خپله ژبه يې ښايسته لګي

خدايګو په پښتو کې مې کمال پروت دئ
ځکه نورو ژبو نه درنه لګي

ویې وایئ ویې لولئ ویې لیکئ
بیا خو به د علم خزانه لګي

تا که پریښوه ، ما پریښوه او دي پریښوه
بیا به درته مور خپله میره لګي

زه په کې خپل حق د تعلیم غواړمه
دا خبره دې باندې ترخه لګي

څوک چې پښتو وایي خو پښتو نه کړي
مینه یې پښتو سره کچه لګي

ما باندې **بیداره** پښتو ګرانه ده
خلکو ته به ښه لګي که نه لګي

---

# د وطن سندره

زما ژوندون یې زما ساه یې زما ځان یې
د ســــــــترګو تــــــــوره
زمــــا ښایســــته افغانســــتان یـــې

ســــتا دشـــمنان تاتــــه ګواښـــیږي
پــــه تــــا یـــې امــــن نــــه لــــوریږي
زړه مـــي پــــه دي ډ یــــر زیــــات خــــوږیږي
پـه ارام نـه یـې د دنیـا د جنـګ میدان یـې
د ســــــــترګو تــــــــوره
زمــــا ښایســــته افغانســــتان یـــې

تـــــه یـــــې تـــــاټوبي دمیړانــــــو
د توریــــــــالیو بــــــــاتورانو
اصــــلي مســــکن یـــې دغازیـــانو
د پښـتنو دزړګي سـر پـه هرچـا ګـران یـې

د ســــــــــترګو تــــــــــــوره
زمـــــا ښایســـــته افغانســــتان یــــې

زمـــونږه ویـــاړ زمـــوږ شـــمله یــــې
د هـــــر افغــــان د زړه دمـــــه یـــــې
د مینــــي ســـاز خـــوږه نغمـــه یــــې
**بصیر بیدار** وایې زموږ عـزت او شـان یـې
د ســــــــــترګو تــــــــــــوره
زمـــــا ښایســـــته افغانســــــتان

## وینې کربښې

د قلـم اوښــکې د کاغــذ پــه سـینه ډنــډ اودریـدې
پــه هــره لاره شــوې روانـــې وینــې وینـې کربښــې
داســې هــم زړه زمــا ســوری وو زه پــرې نـۀ پوهیـدم
خولې نه مې ماتې شوې بې شانه وینې وینې کربښې

# خفه زړهٔ

زړه مې سينې نه جدا کيږي زړه مي ډېر خفه دی
حالات خراب وو خرابيږي زړه مي ډېر خفه دی

زما په زړه يې لوبې وکړې زړه يې يخ نه شولو
د ظالم زړه دې نه خوږيږي زړه مي ډېر خفه دی

په خپل وطن کې پښتانه هم د ژوند حق نه لري
ځکه په هر ځای کې ځوريږي زړه مي ډير خفه دی

د پردي جنګ پردی ګناه کې موږ بې ځايه سوزو
هر وخت په موږ لاري بنديږي زړه مي ډېر خفه دی

مونږه کلونه په دي هيله انتظار کوو چې
امن به راشي رارسيږي زړه مي ډېر خفه دی

ويده پښتون خدايه راويښ کړې چې ځان وپيژني
پښتون به کله بيداريږي ؟ زړه مي ډېر خفه دی

# وحدت

ماتــه بــه د ژونــد د بدلیــدو خبــرې څــوک وکــړي؟
نــور بــه دپښــتون د یــو کیــدو خبــرې څــوک وکــړي؟

تــش پــه خولــه بــه وایــو چــې یــووالی او وحــدت غــواړو
څنګ به په عمل کې د دا یو څو خبرې څوک وکړي؟

یــو پښــتون چــې بــل نــه مني ځــان ورتــه هوښــیار ښــکاري
نــو بیــا بــه پــه حجــرو کــې د جرګــو خبــرې څــوک وکــړي؟

لیــري رانــه لاړو خــدایګو اوس مــې پــه لاس نــه راځــي
بیــا بــه د جانــان د بیــا راتلــو خبــرې څــوک وکــړي؟

څوک چې جنګ پرست وي جنګ بقا ګڼي او ژوند ګڼي
دو ي تــه بــه دجنــګ د پرېښــو دو خبــرې څــوک وکــړي؟

صــبر کــه **بېـــداره** خپــل زړګــي خبــرې مــه کــوه
تاتــه بــه د زړه د صــبریدو خبــرې څــوک وکــړي؟

# لر او بر

یــو مــې زړګــی بــل مــې ځیګــر دی پښــتون
پــروت کــه پــه لــر دی یــا پــه بــر دی پښــتون

کـــونړ تـــاتوبی مـــې د پـــلار نیکـــه دی
زوی مـــې پیـــدا پـــه پیښـــور دی پښـــتون

افغانســـتان مـــې د ویـــاړونو کـــور دی
مومنـــد ، وزیـــر بـــل د خیبـــر دی پښـــتون

د پښـــتنو قومونـــه ګـــل او څـــانګې
هـــر ســـر یـــې ځانلـــه شـــمله ور دی پښـــتون

افســـوس چـــې علـــم نـــه دی لیـــري پـــاتي
خـــو پـــوی پـــه هـــر څـــه او هنـــر دی پښـــتون

څـــوک یـــې پـــه کرښـــو بیلـــولی نـــه شـــي
د یـــو وجـــود تنـــه او ســـر دی پښـــتون

خیـــر کـــه حـــالاتو نـــن ذره کـــه
**بېـــداره** بیـــا هـــم لکـــه غـــر دی پښـــتون

# ارمان

په ورو ورو قدمونو د ارمان په لوري ځم
خپل سیوری راسره دی او د ځان په لوري ځم

هدف ته رسیدل غواړم منزل دې رانه لیري
مقصد مې دی نیمګړی د ګمان په لوري ځم

تصویر یې ښکلومه خپله تنده ماتومه
د کلي کورنه لیري د جانان په لوري ځم

یوځوک خو به پیدا شي په دې شته لویه دنیا کې
چې غم راسره نیم کړي ټول جهان په لوري ځم

د امن د سپرلي د خوشبویۍ په لټه
کاروان دی رانه تللی د کاروان په لوري ځم

**بیداره** ځومره ښه به وي هغه شیبه د ژوند
یاران چې راسره وي د پغمان په لوري ځم

# غزل

له ډېره درده مې په زړه باندې پولۍ جوړې شي
شونډو له راشي ترې وړې وړې سلګۍ جوړې شي

وړه خبره باندې يوبل له مرۍ ونيسي
وړي خبرې نه به غټې دشمنۍ جوړې شي

عجيبه وخت شو خلک جنس بدلوي ځان بدل کړي
د ښو ځوانانو نه ښې مستې جينکۍ جوړې شي

د وطن حال د ليوني لکه شليدلی ګريوان
ګمان مې نه شي که ګريوان يا يې تنۍ جوړې شي

دا وړې کله شړې کېږي چې جنګ نه ختمېږي
شليدلي تار نه به څه شال او څه شړۍ جوړې شي

**بېداره** سر په کې په کار دې چې شمله په سر کړي
د کار سرې ته به د سر ډېرې لونګۍ جوړې شي

# نه پوهيږم

ګناه مې داده چې ګناه باندې مې نه پوهيږم
په خپله سهوه او خطا باندې مې نه پوهيږم

د ګربوانه په ور کې اوښکې راته ډنډ ودريدي
ژاړم په چغو په ژړا باندې مې نه پوهيږم

نن راته ځان بدل بدل ښکاري چې څه وجه ده
ځان پورې خاندم په خندا باندې مې نه پوهيږم

ناز خو بې وړم ، خو د ناز وړلو راله چل نه راځي
د خپل اشنا په ناز ادا باندې مې نه پوهيږم

**بيداره** کوم جرم مې کړي چې مې وژني خاندي
دار ته مې وړي خپلې سزا باندې مې نه پوهيږم

# نه ووځي

نن مې په ريښتيا د زړه نه ، نه ووځي
درد مې په دوا ، د زړه نه ، نه ووځي

زړه ته تسلي وركړم چې رابه شي
نه راځي اشنا د زړه نه ، نه ووځي

ستركو كې را وګوري په خوږ نظر
ستا مې دا ادا د زړه نه ، نه ووځي

چا چې درته يو ځلې زړه مات مات كړلو
ټول عمر دې بيا د زړه نه ، نه ووځي

ښكارى راته دا سې زړه پرې ورغى
خيال چې يې زما د زړه نه، نه ووځي

ته چې يې په خپل زړه كې ساتلې وې
اوس **بيداره** ستا د زړه نه ، نه ووځي

# خبرې

خبري ډېرې وې خو ونه شوې ریشتیا خبرې
په ټول محفل کې چا ونه کړې د مانا خبرې

هر سړی ځان باتور ګڼي وایي چې زه ښه وایم
څوک به د چا غیبت کوي څوک به د چا خبرې

په وعظ یې ځان سترې که هیڅوک یې قانع نه کړله
پرون کولې دې جماعت کې ، چې مېلا خبرې

دې ځینو خلکو ته خپل ځان له نورو پوه ښکاره شي
په هر مجلس کې به شروع کړي خامخا خبرې

دا راته وایه په تا څه وشو چې ګډوډ شولې
دا چې دې یو دم نن شروع کړې وار خطا خبرې

ته به د چا خولې ته برغولی جوړوې **بیداره**
ډېرې دي خولې ډېرې کوي زما او ستا خبرې

# د کونړ د سیند اواز

د سپوږمۍ سپینه شپه وه
یو خاموشي خوره وه
انسانان ټول ویده ؤ
کائنات ټول خاموش ؤ
خو یو اواز دلیرې
غوږ ته زما رسیده
دنیمې شپې دا آواز
یو سندریز شانته ساز
د کونړ سیند غږیدو
سیند ؤ یو شور جوړ کړی
په دې خاموشه شور کې
ؤ ډیر رازونه پراته
سیند د فریاد په ژبه
یو څو خبرې وکړې
ما ورته غوږ ونیوه
سیند شو ګویانه داسې
زه د کونړ سیند یمه
زه په دې ګرده نړۍ
کې ډیر عزت لرمه

زما تاريخ وګورئ
زه د کونړ شمله يم
کونړ زما محبت
ما د کونړ ځمکې ته
وينه د زړه ورکړې
دا شنه زرغون باغونه
زما په اوبو خړوب دي
زما دا مسته خندا
هر زړه کې ځای جوړوي
زما په نوم شاعران
مشاعرې جوړوي
دخپل هوس له پاره
مستې نغمې جوړوي
لږ مې دحال خبر شئ
چې په ما څه تيريږي
دهر يو غره له څوکې
ګولۍ په ما وريږي
چا مې پوښتنه وکړه
چا مې کړې اوښکې وچې
زما پراخه سينه
دخزانو ډکه ده
چا ترې فايده واخسته

څوک به ترې ګټه واخلي
زه خو خونخوار نه یمه
زه محبت خورؤم
زما نه ګټه واخلئ
دشمن ته مه مي پرېږدئ
په ما پولونه جوړ کړئ
ویالې نهرونه جوړ کړئ
دبرق بندونه جوړ کړئ
په هره شاړه ځمکه
شینکي باغونه جوړ کړئ
چې شي ابادې شاړې
زما په یخو اوبو
هلته به شور کومه
چې په غورځنګ راشمه
چې په خدمت دوطن
په کوم یو رنګ راشمه
دخپل هیواد به ویاړشم
**بیدار** ژوندی به شمه
زما نه ګټه واخلئ
زه د کونړ سیند یمه

---

ارشاد خان سوریزي پایان
اپریل ۲۰۱۷ ء (۴۷۲۵)